# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۷۳ ګڼه / شنبه ۱۶ شوال‌المکرم ۱۴۴۴ هـ.ق / ۱۶ ثور ۱۴۰۲ هـ.ش/ ۰۶ می ۲۰۲۳ میلادي


مولوی عبدالکبیر:

## با رسانه‌های که حقایق را بازتاب می‌دهند همکاری می‌نماییم



معاون سیاسی ریاست الوزرا با نشر پیامی به مناسبت روز جهانی مطبوعات گفته است:

امارت اسلامی به آزادی مطبوعات بر اساس حقایق و واقعیت‌ها احترام دارد .

در این پیام، معاون سیاسی ریاست الوزراء روز جهانی آزادی مطبوعات را به خبرنگاران متعهد به اسلام، کشور و منافع ملی، تبریک گفته است.

مولوی عبدالکبیر در این پیام اذعان نموده است: ص۷


د سوداګرۍ وزارت:

## روان کال به ۸ ميلیارده ډالره پانګونه وشي



د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، په روان کال کې به په هېواد کې نږدې ۸ میلیارده ډالره پانګونه وشي. د دې وزارت مسوولین زیاتوي چې دا پانګونه به د کرنې، کانونو استخراج او پروسس په برخو کې وشي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولین وايي، چې د دې پانګونې د بهير پیلېدو سره به هېواد کې د اقتصادي پراختیا او د بې کارۍ په کمښت کې ژور اغېز ولري. د سوداګرۍ او پانګونې مسوولین وايي، چې هېواد کې په سترو پروژو کې د پانګونې او د هغوی عملي پیل کېدل کولی شي هېواد له اقتصادي بحران څخه وباسي.

## د مولوي اميرخان متقي په مشرۍ افغان پلاوی اسلام‌آباد ته ورسېد



شریعت: د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي په مشرۍ جامع سیاسي او تجارتي پلاوی پرون د پاکستان پلازمېنې اسلام‌اباد ته ورسېد. پاکستاني چارواکو د اسلام آباد په هوايي ډګر کې ۷مخ

## ترک‌ها آماده‌ی سرمایه‌گذاری در بخش معادن افغانستان



شريعت: جهاد آرگین آی سفیر ترکیه در دیدار با سرپرست وزارت معادن و پترولیم گفت که سرمایه‌گذاران کشورش آماده اند تا در بخش معادن افغانستان سرمایه‌گذاری نمایند.

وزارت معادن و پترولیم با نشر خبرنامه‌یی گفته است، که شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست این وزارت ... ص۷

## د خوړو نړیوال پروګرام خپل ماموریت ته دوام ورکوي

د خوړو نړیواله اداره (WFP) وايي، چې له افغانستان څخه د وتلو نیت نه لري ا خپلو مرستو ته به دوام ورکړي. دې اداري زياته کړې ده، په افغانستان کې پاتې کېدو او مرستو رسولو باندې تمرکز کوي او له دغه هیواد څخه وتل به له ګواښ سره د مخ افغانانو په ځانګړې ډول د ښځو او ماشومانو پرېښودلو په معنی وي.



## د بلخ ولايت خلم ولسوالي له سمنګانو سره يوځای شوه



د اسلامی امارت د ریاست الوزرا د پرېکړې پر اساس د بلخ خُلم ولسوالي د سمنګانو ولایت اړوند شوه. ۷مخ

## د خوارجو پر يو پټنځای بريالي عمليات ترسره شول

کابل کې د خوارجو دوه جنګیالي د استخباراتو ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې ووژل شول.

د المرصاد خبري سایت په حواله ویل شوي چې پرون (جمعه د ۱۴۴۴ کال د شوال میاشتې په ۱۵مه نېټه) د کابل ولایت اړوند د بګرامیو ولسوالۍ په بت خاک سیمه کې د اسلام دښمنه شریره عناصرو (داعشیانو) پر یوه پټنځای د استخباراتو د ځانګړو ځواکونو لخوا عملیات ترسره شول. یادو عملیاتو چې څو دقیقې یې دوام وکړ، د دوو تنو فتنه ګرو (داعشیانو) په وژل کېدو سره پای ته ورسېدل. په یادو عملیاتو کې د اسلامي امارت مجاهدینو ته هیڅ ډول زیان نه دی رسیدلی.

د مالیې وزارت:

## د ګوتريش څرګندوني له واقعيته لرې دي

شريعت: د قطر په پلازمېنه (دوحه) کې د افغانستان په تړاو د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان له لوري د جوړې شوې ۲ورځنۍ غونډې وروسته د یاد سازمان سرمنشي (انتونیو ګوتریش) د افغانستان د اقتصادي وضعیت په اړه دا څرګندونې، چې «افغانستان له یو ستر اقتصادي ناورین سره مخ دئ، (۹۰) سلنه افغانان په بېوزلۍ کې ژوند کوي، (۶) میلیونه ماشومان، نارینه او ښځې له قحطۍ سره مخ دي او (۲۸) میلیونه وګړي بېړنیو مرستو ته اړتیا لري» کړې دي.

په دې اړه د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت د (ګوتریش) دغه څرګندونې له واقعیت څخه لرې او غیرعادلانه بولي او په کلکه یې ردوي.

د مالیې وزارت په څرګند ډول یادونه کوي، چې د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته د افغانستان په اقتصادي وضعیت کې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځته شوي.

په لومړي ځل له بهرني ملاتړ پرته له کورنیو عوایدي سرچینو ۷مخ

## چين: نړيواله ټولنه دې اسلامي امارت سره تعامل زيات کړي



د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند ماو نینګ ویلي، افغانان له تر ټولو ستونزمن حالت څخه وتلي دي، خو له سختو ننګونو سره لاهم مخامخ دي او بهرني ملاتړ او مرستو ته ډېره اړتیا لري. نو په کار ده، چې نړیواله ټولنه اسلامي امارت سره تعامل او خبرې پیاوړې کړي او دغه راز د افغانستان له بیارغونې او پرمختګ څخه دې ملاتړ وکړي. نوموړي زیاته کړې ده، چې نړیواله ټولنه دې اسلامي امارت سره همکاری او لارښوونه وکړي.


د دولت د شاه ډکون ۲ مخ

خوارج له صدر اسلام څخه ، بيا د نن تر دواعشو ۳ مخ

حُريت او پيشرفت ٤ مخ


## آغاز برنامه آموزشی ۵۵۰ سرباز در پروان

شریعت: صدها سرباز، برای شرکت در یک دوره‌ی آموزش‌های نظامی به مرکز تعلیم و تربیه پولیس پروان معرفی شدند. حاجی زیارت گل زاهد، قوماندان کندک محل تجمع قوماندانی عمومی جلب وجذب پولیس وزارت امور داخله گفت که در این دور، پنج صد و پنجاه سرباز، تحت آموزش‌های نظامی قرار می گیرند. این سربازان قرار است پس از یک دوره‌ی دو ماهه آموزش‌های نظامی، دوباره به واحدهای نظامی شان در کابل، پروان، کاپیسا و پنجشیر مستقر شوند.

## ستندرد ملي اداري د نفتي توکو ۴۰۰ زېرمې تړلې دي



د ستندرد ملي اداري ويلي چې د ټول هېواد په بازارونو کې د بې کیفیته ګاز او تېلو د پیر او پلور د مخنیوي لپاره د ګازو پمپ سټېشنونه او تېل زیرمو د څارنې بهیر پیل شوی دی. د دې اداري د معلوماتو له مخې، تر دې دمه په... ۷مخ

## بلخ کې د کورنيو توليداتو پنځه ورځنی نندارتون پرانيستل شو



د بلخ د صنعت او سوداګرۍ خونې مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د «بلخ زیبا» تر نوم لاندې د ... ۷مخ

سرمقاله

## له ټولشموله حکومته مطلب څه دی ؟!

دا وخت موږ له بېلابېلو نړیوالو جهتونو دا خبره زښته ډېره اورو چې وايي د افغانانو ترمنځ دې مذاکرات وشي او یو ټول شموله یا پراخ بنسټه حکومت دې تشکیل شي. دوی په دې اړه نور څه تفصیل نه ورکوي خو بیا هم ځینې یې ښکاره غوښتنه کوي چې ټول قومونه دې معنا لرونکی حضور په کې ولري! په هر صورت ښکاره ده چې د اغیارو غوښتنې عموماً همدغسې مبهمې دي او دا ځکه چې هغوی په حقیقت کې زموږ د ملامتۍ لپاره پلمې ګوري او پلمې زیاتره وي مبهمې! د نړیوالو دا ډول پلمې د ګرد افغان ولس لپاره ځکه ډېرې عجیبه دي چې وايي دا کوم دلیل دی چې پرون یو فاسق، فاجر او لوطي انسان د یو قوم یا یو خاص ولایت او ولسوالۍ کره استازی ګڼل کېده، خو نن د هماغه قوم او سیمې یو پاک مسلمان شخص بیا هېڅوک نه بلل کېږي. ښايي یوازنۍ وجه داوي پروني خو د همدغو په تبلیغاتو پرېسېدلي او مشهور شوي وو. خو اوسني بیا له پردیو سره دغه ډول هېڅ اړیکې نه لري له همدغو قراینو جوتېږي چې بهرنیان فقط په حکومت کې د خپلو هماغو اجیرانو لیدل غواړي ترڅو یو ځل بیا افغانان د مختلفو جهتونو د اجیرانو خپلمنځي کش وکړپ کې له امنیت او ثباته بې برخې او په سلګونو بد مرغیو کې راګیرشي. په دې کې هېڅ شک نشته چې موږ د ګاونډیانو په شمول ګرده نړۍ یوازې او یوازې خپلو ګټو او شیطاني اغراضو پسې منډې وهي او قطعاً پر هېڅ مظلوم، ۷مخ

د عامې روغتيا وزارت:

## د قابله ګانو لپاره کاري فرصتونه برابروو

په افغانستان کې د قابلو د روزنې ځینې بنسټونه وايي چې په وروستیو کې زرګونه قابلې روزل شوې دي خو په لرو پرتو سیمو کې یې له کمښت او سختې اړتیا سره سره، بیا هم کاري فرصتونه ورته نه شته او بې روزګاره دي.

د ۲۰۲۰ کال د یوې څېړنې له مخې په افغانستان کې ټولټال ۳۷ زره ښځینه قابلې شته خو ایله اووه زره یې په دولتي او شاوخوا پنځه زره یې په خصوصي سکتور کې په دندو بوختې او نورې بې روزګاره دي. ۷مخ

## ننګرهار کې ۲۰ میلیونه نیالګي اېښودل شوي



د ننګرهار کانال ریاست وايي سږ کال په دغه ولایت کې تر ۲۰ میلیونو پورې بېلابېل نیالګي اېښودل شوي چې تر ۴۰۰۰ کسانو ته یې د کار زمینه برابره شوې ده. د ننګرهار د کانال رییس غلام الرحمن کظیم وايي، کانال اداره پخوا عایداتي اداره وه خو اوس دوی خدمات هم وړاندې کوي. د کظیم په وینا د ننګرهار کانال د سمسورتیا، شینوالي او باغونو جوړولو په موخه یې تر شل میلیونو پورې بېلابېل ډوله نیالګي اېښودلي ... ۷مخ

# د دولت د شا ډکون

**ګل نبی**

په کليو او بانډو کې چې کوم ځای انجنيران، سيند او يا خوړ ته استنادي ديوال جوړ کړي نو د انجنرانو، ولسي خلکو ته اړين هدايت دا وي څو د ديوال شاه ډکه کړي.

د دوی په وينا چې دا يو تخنيکي اصل دی او که مراعات يې نه کړي، دېوال نړېږي. بل لور ته د ټولنې انجنيران او همدارنګه د جنګ او معرکې د ډګر انجنيران هم عين خبره کوي او وايي، له مخې نه ويره مه لرئ بلکې د اجتماعي استنادي ديوال (دولت) شاه ډکه وساتئ. پورته خبرې چې ما يې د ننني ورځې د انجنيرانو له خولې حواله ورکړې په اصل کې د دوی خبرې او هدايات نه دي او نه کيدلای شي، بلکې دا د کاڼي د کرښې هدايات او خبرې د بشريت لپاره د راليږل شوي رحمت اللعلمين (صل الله عليه وسلم) خبرې او ويناوې دي. تفصيل ته يې نه ور داخلېږم ( د احد جنګ او د الله د استازي (صل الله عليه وسلم) استخباراتي کړنلاره دواړه د دولت د پايښت لپاره د استنادي دېوال د شاه د ډکون هدايات دي). نو له همدې لپاره يې د پرون ورځې د اتلانو او د سبا ورځې چې معلومه نه ده چې دوی به خپله اتلولي وساتلی شي او که له خاورو سره به يې خاورې کړي، خو زه يې د ساتلو په هيله، خپل شته ماده وار د دوی پر وړاندې ږدم.

د دولت د شاه د ډکون عمده مواد ملي ګټې دي. د ملي ګټو په ګوته کول، تعريفول او د قانون برخه ګرځول د دولت شاه داسې ډکوي لکه چهارمغز چې په کليو ډک وي. ما له خپله آنده ملي ګټې په يوه بله ليکنه کې په ګوته کړې، نور د هم په ګوته کړي.

په تيرو شپږو مياشتو کې تر کومه چې ځرګنده ده اسلامي آمارت يواځې د جهاد بدني اړخ په پام کې نيولای، د مالي، قلمي او ژبني جهاد کوونکو ته يې په درنه نه دي کتلي. د دې مجاهدينو تعداد د بدني جهاد له افرادو نه ډير ده. په دوی کې داسې خيرې شتون لري چې د نړۍ په کچه لوی عالمان دي، مثالونه يې په لسګونو دي خو زه يې يواځې د څو شخصيتونو ذکر کوم. ډاکتر فاروق اعظم په کابل کې، عبدالرحمن الفت په سعودي عربستان کې، ډاکتر صاحب روستا ترکی په فرانسه کې، او عبدالباقي خوګيانی په کابل کې.

د تجربو له مخې د ماديانو پر وړاندې ډير خلک ډېر زيان منونکي وي چې په دوی کې ملا صاحبان هم راځي، دې ټکي ته خاصه پاملرنه په کار ده. که عام خلک خراب شي نو ملا به يې اصلاح کړي او خدای (ج) مکړه که د ملا پښې ماديانو ته وښويږي، ټول جماعت به ورسره په سېند لاهو شي، دلته هم د خفيه استخباراتي ډکون خبره ده.

د يتيمانو او معلولينو پالل که هغه خپل وي او که د مقابل لوري، د استنادي ديوال د شاه ډکون ده او دا پالل د اسلام د پيل نه په ډېر درنښت شوي او بيا وروسته نورې نړۍ خپل کړي او مسلمانانو شاته غورځولي.

د دولت په اداره کې د بيروني استخباراتو رخنه په وعدو او ماديانو د يو کم تعداد پس فطرته اشخاصو خوله خوړول اسلامي دولت له اصلي اهدافو لرې کولای او حتی ړنګولای شي چې ښکاره بېلګه يې د شهيد داود خان نظام ړنګول دي.

تېرې شپږ مياشتې هسې که هغه د رسميت پېژندلو په مورد کې وي او يا دي او يا د بشري مرستو د راجلبولو په مورد کې، دا د نظام د استنادي دېوال د شاه د ډکون د هڅو پرځای د مخې ډکون دی، په دې مورد کې په پاليسيو بيا کتنه په کار ده. په دې برخه کې عمودي تلل نه بلکې په کور دننه او بهر موازي تلل د دولت ستنې مظبوطوي.

ماليات او د مالياتو تنظيم بل اساسي اصل ده چې د دولت شاه ډکوي. په افغانستان کې له لسګونو کلونو راپديخوا مالياتي سيستم کارا نه وه او نه ده. د مالياتو په عامولو او په ټوله کې په ټول مالياتي سيستم له سره غور په کار دی. نوی سيستم بايد د ماليات بر عايدات په بنه تنظيم شي. د باغ ماليه بايد د ځمکې له ماليې نه توپير ولري، بازارو ته لنډې د ترکاريو د ځمکو ماليه بايد د يوې لرې سيمې د جوارو او غنمو د ځمکو د ماليې نه متفاوته وي. ماليه بايد دومره عامه شي چې يوه کونډه ښځه د دوه چرګو د شلو هګيو ماليه ورکړي، د دولتي او خصوصي سکتور د برخې کارکوونکي په ماليه ورکولو مکلف شي. د مالياتي سيستم په رغونه به يو تعداد د نظام مخالفين تر څه وخته سر او صدا جوړه کړي خو اوس د انټرنټ زمانه ده او خلک په دې پوهېږي چې د ملک پيشرفت يې همدې ماليې پورې تړلی ده. د خصوصي سکتور وده او په دې سکتور کې په پراخه کچه اشتغال زائي هغه څه دي چې د دولت شاه ډکوي.

په ټولنه کې يو رنګي او د عدالت تامين بل مهم اصل دی چې د دولت متې مظبوطوي.

د نارينه او ښځينه و لپاره په اسلامي چوکاټ کې تعليم عامه ول، تخصصي کول، هرې توليدي برخې ته د هماغه برخې د کارپوهانو وړاندې کول بل اساسي اصل دی چې د دولت متې قوي کوي، له دې سره هم د توليد د کميت او کيفيت کچه پورته ځي او د تازه دندو ايجاد سره مرسته کوي.

د عثماني امپراتورۍ حکامو څو سوه کاله نيمه نړۍ له کېږديو اداره کړې او له قصر نشيني سره يې د زوال پيل شروع شوی. قصر نشيني يو وسيع مفهوم ده، له دې څخه مراد په قصر کې استوګنه نه،بلکې مراد ترې په عشرت کې ډوبيدل، اخرت هيرول، دنيا ته مخه کول او له رعيت نه ناخبرتيا ده.

تر کومه چې معلومه ده د اسلامي امارت نظامي تشکيلاتو کوم خاص تغيير نه دی موندلای، هر څومره ژر چې کېدای شي مجاهدين بايد په رتبو او کافي معاش ونازول شي او ژر تر ژره بايو متريک شي چې فساد ته لاره هواره نه شي.

# له اسلامي امارت سره پرته له تعامله بله لارنشته!

**حمزه حسيني**



په قطر کې د افغانستان په تړاو د بندو دروازو تر شا د تر سره شوې غونډې تالار ته خبريالان نه دي ور پرېښودل شوي، خو انتوني ګوتېرېش د غونډې په پای کې دا خبره کړې چې نړيوال، د سيمې هيوادونه او نړيوال مهم بنسټونه پر دې يوه خوله دي چې افغانستان سره به ښکېل پاتې شي.

همدا راز د ملګرو ملتونو له لوري ويل شوي چې دوی به افغانستان کې پاتې کېږي او هلته به خپلو مرستو رسولو ته دوام ورکوي، چې په دې هکله يې له نړيوالو د کابو ۵ ميليارد ډالرو مرسته هم غوښتې ده.

دا چې خبريالان دې مهمې غونډې ته نه دي ور پرېښودل شوي او ډېر جزئيات لا هم نه دي رسنيز شوي، امکان لري چې د اسلامي امارت د رسميت پېژندلو په اړه به هم خبرې شوې وي، ځکه چې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي مرستيالې آمنه محمد لا د مخه ويلي وو، چې دا غونډه د رسميت پېژندنې په اړه جوړېږي، خو خاشه يې ځکه پرې واچوله چې دغو ځرګندونو هغه مهال د يو شمېر هيوادونو غبرګونونه را وپارول.

زما په اند ښايي په دې مهمه غونډه کې د هغو هيوادونو ذهنسازي هم شوې وي چې د رسميت پېژندنې په تړاو يې سخت دريځ نيولی و، ممکن دوی ته ويل شوي وي چې له اسلامي امارت سره له تعامل پرته بله لاره او بل آفشن نه تر سترګو کېږي.

د يادونې وړ ده چې انتوني ګوتېرېش د غونډې په پای کې دا هم ويلي، چې راتلونکې کې به هم ورته غونډې جوړې شي، له دغو خبرو يې مالومېږي چې ددوحې د تړون په څېر به نړيوال ښايي په تدريجي او سيستماتيک ډول د افغانستان اسلامي امارت په رسميت وپيژني.

هېره دې نه وي چې انتوني ګوتېرېش د يوې پوښتنې ((چې طالبان ولې دې غونډې ته نه دي بلل شوي؟)) په ځواب کې ويلي، په دې غونډه کې اوس د دوی شتون ته اړتيا نه وه او که په راتلونکې کې ورته اړتيا پيدا شوه را وبه يې غواړي، د نومورې له دې ځوابه دا ځرګندېږي، چې د وخت په تېرېدو سره به طالبانو ته هم ځای ورکړل شي، دا په دې معنا چې هر څه او هر تصميم په لومړۍ غونډه او لومړي پړاو کې نشي نيول کېدای.

# پر سيمه او نړۍ د افغان حکومت د رسميت پېژندلو اغېزه



افغانستان د سيمې لپاره د اتصال يوه داسې مهمه کړۍ ده چې په بحراني حالت کې يې د سيمې هيوادونه له ګڼو ستونزو سره مخ کېدای شي.

په اقتصادي برخه کې د سيمې لپاره د افغانستان ارزښت خورا زيات حياتي رول لري او له منځنۍ اسيا سره د وصل يوازينۍ لاره يې بللای شو. د تجارتي اموالو د لېږد رالېږد له ټولو ارزانه لاره د سيمې لپاره افغانستان دی، چې دا مهال پرې د ډېرو هيوادونو اموال انتقالېږي. پر دې بنسټ ګاونډي هيوادونه په دې برخه کې اړ دي چې له افغانستان سره تعامل وکړي.

که افغان حکومت په رسميت وپېژندل شي، له دې سره به د سيمې د هيوادونو ګډې پروژې (لکه ټاپي، کاسا زر، او ورته نورې) بېرته په چټکۍ پيل شي، نړيوال بانک به د سيمې په کچه له دربدلو پروژو سره يو ځل بيا تعامل پيل کړي، ځکه چې افغانستان د دې پروژو يو مهم اړخ دی. نړيوال بانک اوس په دې بهانه تعامل نه کوي چې افغان حکومت لا په رسميت نه دی پېژندل شوی. د امارت په رسميت پېژندل کېدو سره به د سيمې هيوادونه ډيرې اقتصادي ګټې ترلاسه کړي، چې افغانستان به يې هم برخه وي. دا هم بايد وويل شي چې په اقتصادي ودې سره په سيمه کې بحرانونه پای مومي او د ټيکاو دريځې پرانيستل کېږي.

له دې ورهاخوا، په امنيتي لحاظ هم د سيمې لپاره يو پر امنه افغانستان ډېر مهم دی، ځکه که چېرې په افغانستان کې يو مستحکم نظام موجود وي نو له دې سره امنيت هم خوندي کېږي او ګاونډيانو ته ترې ستونزې نه شي ايجادېدای او که چېرې په افغانستان کې داسې يو نظام وي چې له ستونزو سره مخ وي، نو په دې کې شک نشته چې زيان به يې ګاونډيو هيوادونو ته هم رسېږي.

په نړيواله کچه هم همدا قضيه صدق کوي. که نړيوال غواړي پر امنه افغانستان تجربه کړي، نو بايد له افغان حکومت سره تعامل وکړي او په رسميت يې وپيژني. اوس دوی ته بله لاره نه ده پاتې او نه تر اوسني نظام بل ښه بديل پيدا کولای شي. دلته ډېر تجربه شول. نه يوازې دا چې هغوی نړيوالو ته په سترګو کې شکې واچولې، بلکې افغان ولس يې هم ناراضه کړی او ملت يې هيڅکله نه غواړي.

د دې پرځای چې نړيوال له افغانانو لاس پر سر شي، ښه به دا وي چې د ځان، جهان او افغانستان د سوکالۍ او پرمختګ لپاره له افغانانو سره تعامل وکړي؛ او د سيمې د امنيت او ثبات د خرابولو پر ځای دې د سيمې د بيا رغونې لپاره کار وکړي. دا د ټولې نړۍ په ګټه دي.

# د زندان خاطره!

**دوهمه برخه / قاري توريالی تائب**

**د ملي امنيت خطرناکه لومه!**

کله به چې د بندي د تحقیقاتو مرحلې پای ته ورسيدې او بندي پلچرخی ته د ليږلو لپاره تيارېده، نو د ملي امنيت کسان به د ملا په جامه کې راتلل هغوی به تاسره په عادي ډول په يوه ځانګړي اطاق کې ناسته ترسره کوله، دوی واقعاً هم ملايان او اکثرو يې د معاصرو او پرمختللو مدرسو فارغين وو

دوی به درسره په فرش کړې خونه/اطاق کې کېناستل او په لومړي سر کې به يې درسره خواخوږي شريکوله او ويل به يې چې تاسو د دې هيواد سرمايه ياستئ او دا چې نن له تاسو نه کومه خطا ګناه ترسره شوې ، دا رنګې خطاوې له أدم عليه السلام او نورو انبياؤ نه هم ترسره شوې، نو ته مه خفه کېږه، موږ ستا په درد پوه يو او پوره همکاري درسره کوو.

بيا به يې په خپل ملګري غږ وکړ، چې ورکړه قاري/ملا صيب ته يو څو روپۍ د خرچې لپاره، بل کس به جيب ته لاس کړ او ۵۰۰/۳۰۰ افغانۍ به يې درکړې

دوی به له تاسره لومړی ځل د ملګرتيا په دود ليدل او کتل کول، خو په دويم ځل به يې وړانديزونه پيشنهادات درته کول، چې راځه له موږ سره همکاري وکړه.

زه يې چې کله وغوښتلم او خوږې خبرې يې راته شروع کړې، زه پوه شوم چې دوی همغه درباريان دي چې مخکې زه ورسره اشنا وم

دوی ډېرې خوږې خبرې راسره وکړې، ما هم د دوی په خبرو د تائيد سر ښوراوه

خو يو څو ورځې بعد د دويم ځل لپاره چې څنګه راغلل، له سترې مشي او خوږو خبرو وروسته يې له مانه هم د همکاري غوښتنه وکړه

ما ورته وويل: څه ډول همکاري له تاسو سره کولی شم؟

ويل يې آفريين ـ ته به داسې وکړې چې موږ ته ځينې بنديان اقرار نه کوي، ته به د يو امارتي او مجاهد په نوم له هغوی سره په کوټه قلفۍ يا پلچرخي کې اړيکې کلکې کړې او معلومات به ترې واخلې چې څومره جرمونه، قتلونه او ... يې ترسره کړي، له کومو ډلو ټپلو سره اړيکه لري او څنګه خلک دي؟

ما ويل دا خو ډېره أسانه خبره ده، اما د يو بندي لپاره نه، ځکه زه خپله اوس ستاسو په ګمان تاسو ته مجرم يم، نو زه څنګه د بل مجرم(!) جرم تاسو ته معلوم کړم؟

ويل يې: نه کنه! ته خو مجرم نه يې، موږ له تاسره همکاري کوو او د ژر خلاصون لپاره دې هلې ځلې کوو، ما ويل چې داسې ده اول ما أزاد کړئ، کله چې زه د کامل حريت او أزادۍ احساس وکړم بيا به همکاري سره کوو

ويل يې: سمه ده، موږ له قاضيانو او څارنوالانو سره په ټپه غوږ جنګوو او تا خلاصوو

بس دغه ډله پسې لاړل او ددويم ځل لپاره به يې له تاسره ملاقات نه ترسره کيدل

يو څه وخت بعد به بيا بله ډله راغلل، هغوی به هم ورته غوښتنې لرلې، خو بڼه به يې لږه متغيره وه، حتی د تلفون د ګرځولو ژمنه به يې هم درسره وکړه، چې موږ تاته ټلفون او د خبرو د ثبتولو آله هم درکوو.

له بده مرغه چې ځينې نادانه وګړي حتی ښه ښه مجاهدين به هم د دوی په خبرو وغوليدل او په زندان کې به يې جاسوسي کوله.

(په تېښتيدلو ټاميانو کې د رحمت الله اندړ په نوم کس به تاسو پيژنئ؟

د ځينو ملګرو د معلوماتو پر اساس اندړ هم په اولو وختونو کې د مجاهدينو کلک ملاتړ، رابط او همکار پاتې شوی، خو چې کله بندي شو بس ددغو ظالمانو د شومو اهدافو ښکار شو او دغسې چاپلوس، جاسوس او ټامي ترې نه جوړ شو)

خو ددوی(د امنيت درباری آخوندانو) تر ټولو خطرناکه لوبه دا وه چې که تا همکاري کوله او کنه، دوی به په داسې ورځ ستا نوم په لاډسپيکر کې واخيسته چې نه د پايوازانو ورځ به وه او نه هم د مدافع وکيلانو، نو چې کله به په لوډسپيکر کې باشي غږ وکړ چې فلانکی ولد فلانکی دې راشي، نو ټولو بنديانو به دا شک کولو چې د فلانکی کس نوم يې نن څنګه او ولې واخيسته او چېرته لاړ؟

درحاليکه چې نن نه د پايوازانو ورځ ده او نه هم د مدافع وکيلانو د ملاقات ورځ.

هغه که ددوی همکار و او کنه خو بنديانو به په همغه کس بدګمانه کېدل او د بنديانو په منځ کې به يې په دغه ډول د نفرت، بدبينۍ او بدګمانۍ تخمونه شيندل.

**نور بيا...**



# خوارج له صدر اسلام څخه، بيا د نن تر دواعشو

**دريمه برخه / عبدالرحمن محمود**




د خوارجو لومړی ظهور، او ورسره د هغه وخت د مسلمانانو خپلمنځې ستونزې

خوارجو پر هغه مهال لومړی ظهور وکړ چې کله حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت معاويه رضي الله عنه يو اتفاق او سولې ته سره نږدې شول، د حضرت عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته حضرت علي کرم الله وجهه خليفه د مسلمانانو اميرالمؤمنين و ټاکل شو ، حضرت معاويه رضي الله عنه چې دا وخت پر شام باندې امير او والي و ، د حضرت عثمان رضي الله عنه د قاتلينو د قصاص غوښتنه يې وکړه، حضرت علي کرم الله وجهه ورته وويل لومړی بيعت وکه، بيا به د عثمان قاتلين قصاص کړو، په همدې باندې د دوی دواړو ترمنځ اختلاف راغی، جنګونه وشول، چې تفصيل يې په دا ډول دی.

د حضرت علي رض لښکر و (صفين) نومي ځای ته ورسېد ، حضرت معاويه رض ته حال ورغی ، هغه د خپل لښکر سره ورته راووت ، د حضرت علي رض د لښکر تعداد يو لک او شل زره و ، او د حضرت معاويه رض د عسکرو شمېر نوي زره و.

وبالاخره د دواړو فريقينو ترمنځ جنګ شروع شو ، جنګ ټوله ذي الحجة مياشت متصل روان وو ، البته د جنګ کيفيت داسې و، چې فقط يو يو ټولی به د هرې ډلې جنګ ته راوت ، په ورځ کې به يو وخت يا سهار او يا ماښام ، او کله کله به دوه وخته جنګېدل ، ټول لښکر يې جنګ ته نه را ايست د قتل عام او يو مخيز هلاکت له وجهې او په دې اميد چې ممکن سوله وشي ، د محرم الحرام مياشت چې څنګه را داخله شوه دواړو فريقينو سولې ته تلوار وکړ ، په اکثريت سره د سولې کوښښ هغه صحابه کرامو کاوه چې په دواړو ډلو کې يې حضور درلود ، مګر حضرت علي رض او حضرت معاويه رض دواړه پر خپل موقف ټينګ ولاړ وو، حضرت علي رض و معاويه رض ته ويل لومړی بيعت وکړه ، حضرت معاويه بيا ويل چې کله دې د عثمان قاتلين ووژل بيا بيعت درسره کوم.

لنډه دا چې د سولې خبرو هېڅ نتيجه ورنه کړه ، جنګ بېرته هماغسې روان شو لکه مخکې چې روان و، ټولی ټولی به جنګ ته راوتل ، لومړۍ اوونۍ همداسې جنګ روان و، تر دې وخته د دوی ترمنځ اويا جنګونه شوي وو، وروسته تر يوې اوونۍ حضرت علي رض اعلان وکړ چې سبا چهارشنبه به ټول لښکر جنګ ته وځي ، حضرت معاويه رض خبر شو ، په همدې شپه ټولو خپلې اسلحې راواخيستې ، د جنګ لپاره يې تيارولې، عمروبن العاص الاموي خلک جنګ ته هڅول چې په سبا کې ښه په مېړانې سره جنګ وکړي.

په سبا کې جنګ شروع شو ، جنګ تر ماښامه پورې په ډېر شدت سره مستمر روان وو ، فقط د لمانځه پر وقت يې وقفه د جنګ کول.

په دوهمه ورځ کې هم جنګ هماغسې روان و، خو راتلونکې شپې ته جنګ ډېر زور واخيست ، دغې شپې ته په تاريخ کې ليلة الهرير وايي او دا شپه د جمعې مبارکې وه ، په دې شپه دومره شديد قتال وشو چې مخکښې ورته هېڅ ښکارېده، ابن کثير رح د دې شپې په باره کې وايي( ستونی وچ شو، تورې پڅې شوې، نېزې او غيشې ختم شول ، حتی دوه کسان به سره په جنګ وو، ستړي به شول بيا به دواړو ارام وکړ او له ارام وروسته به يې بيا جنګ شروع کړ تر څو چې په وينو به سره شول ، همدغه حالت روان و، د جمعې شپه سهار شوه ، لا هم جنګ روان و، د څاښت پر وقت اهل عراق د حضرت علي رض ډله پر اهل الشام د حضرت معاويه رض پر ډلې منتصره او غالبه شوه ، په دې جنګ کې د دواړو جانبينو څخه د (ابن ابي خيثمه په روايت) اويا زره کسان په شهادت ورسېدل ، پنځه څلويښت زره د حضرت معاويه رض د ډلې او پنځه ويشت زره د حضرت علي رض له ډلې وو.

**انا لله و انا اليه راجعون.**

له دې لويې فاجعې وروروسته يو شمېر ذي درايته کسان چې په دواړو طرفو کې وو، د جنګ له اوږدېدو او استمراره ډېر سخت ووېرېدل ، هسې نه چې د مسلمانانو لښکر ټول همدلته ووژل شي ، اشعث بن قيس الکندي خپل قوم اهل الکوفة ته داسې خطبه وړاندې کړه.

((ای ټوليه د مسلمانانو ، تاسو هغه څه وليدل چې تېره ورځ پېښ شول ، په رب قسم چې پر ما څومره عمر تېر شوی ما داسې سخته او هلاکوونکې ورځ نه ده ليدلې ، دا زما خبره ده شاهد و غائب ته ورسوي چې سبا موږ يو توافق کوو ، دا جنګ به عرب فناء کړي ، او عزتونه به لوټ شي ، او په الله قسم چې زه خپل پر ځان نه وېرېږم ، بلکې پر دې وېرېږم چې د مسلمانانو ښځې او عيال به د چا لاسونو ته ولوېږي ؟))

اهل الشام ږغ وکړ ای عراقيانو که تاسو موږ ووژنئ زموږ د اهل و عيال لپاره څوک شته ، که موږ تاسې و وژنو ستاسو د اهل و عيال لپاره څوک شته ؟ نور له الله څخه و وېرېږئ ، پر دې پاتې لښکر د مسلمانانو رحم وکړئ.

کله چې د اشعث خبرې و حضرت معاوية رض ته ورسېدلې ويې فرمايل: په رب د کعبې قسم چې حق خبرې يې کړي، که چېرې موږ سبا هم په جنګ مشغول شو روم به زموږ پر اهل و عيال باندې هجوم راوړي ، او فارس به د عراقيانو پر اهل و عيال هجوم ور وړي ، د دې درک يواځې د بصيرت څښتنان کولای شي.

عمرو بن العاص و حضرت معاويه رض ته وويل چې علي رض ته قران کريم ور ولېږه ، د الله کتاب ته يې را وبوله ، همداسې وشوه ، د شام خلکو قرانونه را واخيستل ، د اسانو په غاړو پورې يې وځړول ، د دمشق تر ټولو لوی قرآن کريم چې لسو کسانو را اخيستی و،هغه يې هم راوړ ، بيا يې پر اهل العراق ور ږغ کړل ای عراقيانو زموږ او تاسو تر منځ د الله کتاب دی ، د هغه فيصلې ته به غاړه ږدو .

د دواړه فريقينو پر محاکمه او صلحه اتفاق ، او د خوارجو وارخطايي او ظهور... نور بيا

# خوږې کيسې

**امين وردګ / شلمه برخه**

**د ميني زور**

د امام غزالي (رحمة الله عليه) په تأليفاتو کې يو له ډېرو جالبو کيسو څخه داسې راځي: وايي چې حضرت عيسی (عليه السلام) يوه ورځ د يوه باغ تر څنګ تېرېدلو، چې ګوري يو ښکلی ځوان بېل په لاس په کې ګرځي را ګرځي او ونو ته اوبه ورکوي.

د الله نبي سلام ورته وکړ، هغه هم په مينه ځواب ورکړ او بيا يې ورته وويل: اې د الله رسوله! ته خو ماته يوه داسې دعا وکړه چې د الله پاک مينه مې زړه ته ننوزي؟ ده مبارک ورته وويل: اې ځوانه! له دغه کاره تېر شه! ځکه چې د انسانانو زړونه د الله پاک د مينې زور نه لري.

باغوان ټينګار وکړ چې فقط يوه ذره مينه يې غوارم! هغه مبارک ورته وويل: د يوې ذرې تاب هم نه لرې.

باغوان دا ځل نيمې ذرې ته راټيټ شو، خو پر همدغې نيمې ذرې کلک و درېد، تر دې چې رسول مبارک الله پاک ته مراقبه شو او داسې دعا يې وکړه : اې لويه ربه! ته خو زموږ دواړو حال وينې چې دغه ځوان څومره شله دی او ما نه پرېږدي! نو زه له تا غوارم چې د نيمې ذرې په کچه د ده زړه ته خپله مينه ور ننه باسه.

الله پاک د خپل نازولي بنده او رسول دعا قبوله او باغوان ته يې خپله نيمه ذره مينه ورکړه.

څه وخت وروسته د خدای رسول يو ځل بيا پر دغې لاره راغی، نو ناګهانه هغه ځوان ورياد شو؛ خو چې د باغ لوري ته يې وکتل، نو هغه يې په کې و نه ليد ، مګر دلته يو بل کس ولاړ و! له هغه يې وپوښتل؛ چې ګواکې دغه باغوان به چېرې وي؟ هغه ورته وويل: موږ نه پوهېږو چې يو په يو پر ده څه وشول؟ خو څه وخت کيږي چې لېونی شوی او له دغه ځايه تللی دی، اوس يې هېڅوک هم په اړه مالومات نه لري، چې ګواکې کومې خوا ته تللی او چېرې به اوسېږي؟

ده مبارک بيا الله پاک ته لاسونه لپه کړل او د دغه ځوان په هکله يې ترې وغوښتل؛ چې پيدا يې کړي او ورسره وګوري.

الله پاک يې دعا قبوله کړه او د باغوان آدرس يې ورکړ؛ خو کله چې د خدای رسول هلته ورغی، نو ګوري چې ځوان په غره کې د يوه ګړنګ خوا ته د لوړ کمره پر سر ولاړ دی، د آسمان لوري ته ګوري او له ځان سره پټ پټ خاندي. حضرت مبارک سلام ورته وکړ، خو هغه ځواب ورنه کړ، بيا يې ورته وويل: اې ځوانه! زه همغه عيسی (ع) يم چې دعا مې درته وکړه! خو ځوان بيا هم نه ورته وکتل او نه يې ځواب ورکولو ، تر دې چې د الله پاک له خوا وحيې ورته وشوه چې: ((اې عيسی! د چا زړه ته چې زما مينه ننوزي، نو هغه کس بيا د چا آواز نه اوري ولو که نيمه ذره مينه هم وي! زما دې په خپل ذات سره قسم وي! چې که دغه ځوان همدا اوس پرمنځ سره دوه ځايه کړې، نو اخ قدرې به هم و نه کړي).

**نور بيا...**

# فساد او مفسد

**پنځمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**



**اخلاقي فساد:**

په هره زمانه کې د اسلامي ټولنې یو ستر مشکل اخلاقي فساد دی چې په هر ارخیزه توګه یوه جدي ستونزه ده او په زیاترو اسلامي هېوادونو، ټولنو او ځوانانو کې په سخته او وحشتناکه توګه خپره شوې، چې په سبب یې اسلامي ټولنه د لویو لویو اصلاحي چالشونو او ننګونو سره مخامخ کړې ده.

**اخلاقي فساد څه شی دی؟**

اخلاقي فساد د سمو فطرتي اخلاقو او نیکو ارزښتونو لرې کول او پرېښودل دي او له دنیوي مبتذلو اخلاقو سره د ځان عادت کول او په خلکو کې یې رواجول دي.

د اخلاقي فساد لاملونه:

ممکن په هره ټولنه کې اخلاقي فساد ځان ته خاص لاملونه ولري خو په موږ مسلمانانو کې یې په عامه توګه لوی لامل د الله تعالی د شریعت او د رسول الله (ص) له سنتو څخه لرې کېدل او په ټولیزه توګه اسلام ته شا اړول دي او په خاص ډول لاندې شیانو ته د اخلاقي فساد د لاملونو په توګه اشاره کولای شو:

**۱ – د پوهې نشتوالی او د هوس ډېروالی:**

دا یو حقیقت دی چې نېک اخلاق د انسان فطرت دی او انساني فطرت په دین او اسلام پېژندل کېږي نو په کومو خلکو کې چې د اسلام په اړه پوهه نه وي او د هوس پسې خلک روان وي طبعاً په هغوی که به اسلامي اخلاق هم شتون ونه لري او په اخلاقي فساد به اخته کېږي.

۲– فکري انحراف:

په دې خاطر چې د انسان اعمال د فکر او باور تابع دي نو په کومه ټولنه کې چې افکار فاسد شول طبعاً اعمال هم ورسره فاسدېږي چې اخلاق یې هم مهمه برخه ده، دا یو حقیقت دی چې زموږ په ټولنه کې نن په شعوري یا غیر شعوري ډول کفري او غربي افکارو وده پیدا کړې، چې هم مهاله اخلاقي فساد هم خپل اوج ته ورسره رسېدلی دی.

**۳– د کورنۍ کنټرول نه شتون:**

په دې هر څوک پوهېږي چې فردي اصلاح د ټولنیزې اصلاح لپاره یو مهم اصل دی او فردي اصلاح هغه وخت ممکنه وي چې هره کورنۍ پر خپل هر غړي پوره کنټرول ولري او د هغه ورځني ټول فعالیتونه وڅاري، کله چې د کورنۍ ځینې غړي له کنټروله وځي او په خپلو نفسي خواهشاتو اخته کېږي طبعاًکورنۍ هم ورسره فاسدېږي او چې کله کورنۍ فاسده شوه ټولنه ورسره فاسدېږي ځکه چې کورنۍ د ټولنې بنسټیز جوړښت دی او له بده مرغه چې نن ډېر ځوانان او ځوانانې له دې امله په اخلاقي فساد اخته دي چې کورنیو یې د دوی په وړاندې خپل فعال رول سر ته نه دی رسولی او د دوی کنټرول یې په سمه توګه نه دی کړی او تر دې لا عجبه دا ده چې د کورنۍ مشران خپله په اخلاقي فساد اخته وي.

**۴ – له علماوو سره مبارزه او د دوی د رول نشتوالی:**

لکه څنګه چې موږ شاهدان یو اهل باطل په اسلامي ټولنه کې کوښښ کړی تر څو په ګڼو طریقو د علماوو یا روحاني رهبرانو رول په مسلمانانو کې کم کړي، تر څو خلک د جهالت او ناپوهۍ په دامونو کې راګیر شي او د نورو فسادونو تر څنګ په اخلاقي فساد کې هم غرق شي ځکه په کومه ټولنه کې چې د علماوو پر خبره غوږ نه نیول کېږي یقیناً چې هلته به هر فساد خپل نهایي اوج او قدرت رسېږي.

**۵– د اهل باطل ډېروالی:**

دا معلومه خبره ده چې کله اهل باطل ډېر شي فساد او باطل به هم ورسره ډېرېږي نو د اخلاقي فساد یو سبب هم د اهل باطل او فاسدو انسانانو ډېرېدل دي چې په ګڼو طریقو په اسلامي ټولنه کې فساد خپروي.

**۶– له جومات او دیني مدرسو سره رابطه کمېدل:**

دا یو حقیقت دی چې جوماتونه او دیني مدرسې په مسلمانانو کې لکه د معنویاتو لپاره چې ارزښتناکه منابع دي د ظاهري اصلاح لپاره هم بنسټیز مرکزونه دي ځکه په جوماتونو او دیني مدرسو کې خلکو ته د دین تعلیم ورکول کېږي او چې څومره خلک ددین سره آشنایي پیدا کوي په هماغه کچه د فساد ګراف را ټیټېږي نو ځینې خلک چې په اخلاقي فساد اخته دي ممکن سبب یې دغه وي چې دوی د جوماتونو او دیني مدرسو سره رابطه نه لري.

**۷– په اخلاقي فساد کې د رسنیو رول:**

په هره زمانه کې د باطل او فساد لپاره د خپرېدلو آلې او سامانونه موجود وي خو زموږ په زمانه کې د ځینو رسنیو له لارې په ټولنه کې ډېر سخت اخلاقي فساد خپور شوی دی په خاصه توګه هغه رسنۍ چې په شل کلن جمهوریت کې یې د فسق او فجور خپروني خلکو ته نشر کولې او هغه ټولنیزې رسنۍ چې خلک یې له لارې تل فحشاء او منکرات ګوري لکه فیسبوک او نور...

**۸– د کفارو په خاصه توګه له غربیانو څخه په ړندو سترګو تقلید:**

ځینې مسلمانان د ناپوهۍ له وجهې په پټو سترګو د کفارو او غربیانو څخه تقلید کوي ځکه د نورو فسادونو تر څنګ په اخلاقي فساد هم اخته کېږي.

**د اخلاقي فساد څو بېلګې:**

۱– په ځوانانو کې د منفي مینې او عشق احساس

۲– په کوڅو کې په نجونو پسې کتل

۳– په ځینو مبتذلو رسنیو کې له نجونو سره تماس او رابطه

۴– په تلویزیونونو او ټلیفونونو کې د مبتذلو فیلمونو، سریالونو او انځورونو کتل

۵– په تالارونو، کافیشاپونو او اطاقونو کې د شراب څښلو او چیلم وهلو باندار جوړول

۶–په ودونو کې د موسیقۍ مراسم نیول

۷– له نورو انسانانو سره د اسلامي اخلاقو سره متفاوته معامله کول

**د اخلاقي فساد مخنیوی:**

په کومو هېوادونو کې چې اسلامي نظامونه حاکم وي په لومړي قدم کې هغه نظامونه مسئولیت لري چې د هر ډول اخلاقي فساد په وړاندې کلک ودرېږي او په ټولنه کې اخلاقي فساد له ریښو ختم کړي همداسې د یوه منظم مکانېزم له لارې له رعیت سره په همغږۍ د اخلاقي فساد سره مبارزه وکړي، په دویم قدم کې خلک هم له اخلاقي فساد سره په مبارزه کې باید خپل مسئولیت سر ته ورسوي او د دې تر څنګ چې د خپل نظام تر شا باید ودرېږي په خپله هم په انفرادي او ټولنیز ډول په نظام کې د مربوطه ادارو سره په همغږۍ د اخلاقي فساد پر ضد مبارزه وکړي.

**د اخلاقي فساد درملنه:**

که چېرې زموږ ځوانانو ځان په اسلامي اخلاقو سمبال کړي، دیني زده کړې پوره وکړي او د هر ډول دښمن په وړاندې ځانونه د پوهې او ځیرکتیا په وسلې مسلح کړي هېڅ وخت به د اخلاقي فساد غونډې په بربادوونکو شیانو باندې اخته نه شي، ځکه د اسلامي اخلاقو او دیني زده کړو په ذریعه په انسان کې حیاء او غیرت پیدا کېږي او چې له هر چا سره حیاء او غیرت پیدا شي بیا هېڅکله یادو ناروا شیانو ته لاس نه اچوي ځکه مضمون د حدیث دی: چې کله حیاء درڅخه ولاړه بیا نو هر کار چې دې زړه غواړي کوه یې. یعنې له هر انسانه چې حیاء ولاړه شي بیا نو هر کار چې یې مخې ته راشي کوي یې.

همداسې د اسلامي تعلیماتو په رڼا کې ځیرکتیا د دې سبب جوړېږي چې انسان دې خپل هر بربادوونکی دښمن وپېژني او د هغه د هر منفي پلان په وړاندې دې چټکه مبارزه وکړي چې په نتیجه کې د هېڅ منفي تبلیغ او ناروا پروژې ښکار نه ګرځي.

که زموږ ځوانان د خپلو دیني پوهانو، علماوو، مساجدو او مدارسو سره نږدې رابطه ولري او په ځان کې دیني مقدسه روحیه او ایماني جذبه را ژوندۍ کړي زه سل په سلو کې ډاډه یم چې د هر ډول اخلاقي فساده نه تنها دا چې نجات پیدا کوي،بلکې د اخلاقي فساد پر ضد به تکړه مبارزین ورڅخه جوړېږي.

# حُریت او پیشرفت

**غلام نبي ګل**

یوه خبره باید د اسلامي امارت چارواکي درک کړي. چې بې له ورتیا، شایسته ګۍ او تخصصه نه ملت جوړېږي. نه عدالت قایمېږي. او نه پیشرفت صورت نیسي.

ټولنه دا مني چې طالب د تاریخ څپېړې نه هم ځان بچ کړ او هم خپل ملت. خو پدې خاوره ډېر نور هم شته چې تاریخ یې پر مخ د څپېړې ورکولو جرئت نشي کولای. زما د لیکنې تمرکز په همدې خبره دی چې څنګه د خپل د سوونو کالو د ناخوالو او کړاوونو نه د ډک تاریخ پاڼه واړوو. او یو نوی باب شروع کړو.

نننی اسلامي امارت هغه د دوه نیمو لسیزو وړاندې د شر او فساد پر ضد د عمومي پاڅون سرلاری طالب نه دی. چې نه یې حزب درلود، نه مخکنۍ برنامه او مرامنامه. خو اوس طالب په طالبیزم یعنې یو فکر بدل شوی. داسې یو فکر چې په معاصر تاریخ کې پیشینه نه لري.

که همدا طالبیزم یو جهت پیدا کړي او په دوو شعارونو (حُریت او پیشرفت) کې یې خلاصه کړو، دا په واقعي معنا یو فکري مکتب شو. په دې باندې کتابونه لیکل کیدلای شي، محکوم ملتونه دا د خپلې مبارزې سرلیک ګرځولی شي. او که دا طالبیزم د خپلې خیتې، خور او خوریې، قوم، ژبې، سمت او مذهب په محور راوڅرخېده بیا خو د شر او فساد پر ضد د طالبانو تر رهبرۍ لاندې د دوه نیمو لسیزو وړاندې پاڅون هم یو اشتباه وه او د اشغال او د ګوډاګیو پر ضد هم زموږ پاڅون تر سوال لاندې راتللی شي.

د اسلامي امارت نه هیله مندي دا ده چې دا عظیم او سربښندونکی ملت د حُریت او پیشرفت سره داسې غاړه غړۍ کړي چې بیا یې هیڅ استعماري قدرت د جلا کولو توان ونه لري. او پدې خاوره کې ګوډاګي توب پای ومومي.

د انقلابونو تر بري وروسته انقلابیون همیشه په داسې مشترکو شعارونو پسې ګرځي، چې ملت پرې راغونډ او یو موټی کړي او په فعلي شرایطو کې زموږ ملت په همدې شعارونو یو لوری موندلی شي. د دې لیکنې په سر کې موږ دې خبرې ته اشاره وکړه چې غیر له طالب نه په دې ټولنه کې د هغو افرادو کمی نشته چې تاریخ یې په مخ د څپېړې ورکولو جرئت نه لري. دا افراد که د تنظیمونو او احزابو په بڼه دي او یا په انفرادي ډول خو د حُریت لپاره به یې د مبارزې بڼه له اسلامي امارت سره متفاوته وه. همدا پراخه قشر د اسلامي امارت سره په ګډه د حُریت د ساتلو او د هیواد د اقتصادي او اجتماعي پیشرفت لپاره په یو پراخه ځواک او نیرو بدلیدلی شي. لدې سره له یوې خوا د نړیوالو پوښتنې ځوابېږي او له بلې خوا د هېواد د ترقۍ لپاره تر یو حده د کدرونو تشه ډکېږي.

زموږ د تیر معاصر تاریخ د چارواکو اشتباهاتو ته په کتو چې د واک پر سر ورور د ورور سترګې وویستې، زوی خپل پلار مړ کړ، هېواد یې پېړۍ پېړۍ له خپل طبیعي رُشده پاتې کړ. دا ټول پدې وجه چې موږ د حکومتولۍ یو فورم یا چوکاټ ته داخل نشو. اسلامي امارت ته دا یوه بنیادي مسئله ده چې پدې فکر وکړي او آینده نسلونو ته واک ته د رسیدو او یا د دولت دارۍ یو سیستم رامنځته کړي. د اسلامي امارت فعلي چارواکي چې اشغال ته یې خاتمه ورکړې او هېواد ته یې خپلواکي



بښلې ملت یې په سر سترګو مني. اما د دوی زامن خو نه مني. هغه خو بیا بل نسل دی. له روسانو سره د جهاد د وخت د رهبرانو زامن هم چا ونه منل او ډېری یې په ټولنه کې منفورترین خلک ثابت شول.

اصلي خبره دا ده چې موږ خو سیاسي ازادي خپله کړې اما د اقتصادي ازادي په برخه کې خو د سوال ټیکلي ته ناست یو. اقتصادي ازادي هغه وخت خپلولی شو، چې موږ د تعلیم له لارې کدرونه وروزو. د حکومتولۍ یو سیستم رامنځته کړو. خپل پیشرفت او حُریت ساتل د یو قانون په واسطه تنظیم کړو.

په دې ټول سره پوهېږو او هغه دا چې موږ خو تر دې وړاندې هم بار بار اشغال ګر مات کړي او سیاسي ازادي مو خپله کړې. خو بیا مو د اقتصادي ازادۍ فکر ندی کړ، تعلیم او د کدرونو روزل مو د اقتصادي ازادۍ کیلي نده بللې، د جنسیتي توپیرونو پر وړاندې نه یو دربدلي، د ملت جوړېدنې د تهداب خښتې مو نه دي ایښې، د یو قانون مند دولت تر چتر لاندې نه یو راټول شوي، د دین او وطن پالنې په روحیه مو اولادونه ندي روزلي، نو په پایله کې مو د سیاسي ازادۍ په شمول هر څه له لاسه ورکړي او بیا مو د صفري نقطې نه شروع کړې. د اسلامي امارت کمال به دا وي چې زموږ آینده نسلونه دې ته اړ نشي چې زموږ په شان بیا له صفري نقطې شروع وکړي.

# د سرور کاینات حضرت محمد (ص) اخلاق

**حیات الله حلیم**



داسلام سپیڅلي دین ته ددعوت په لاره کې اوهمدارنګه د شخصي ژوند په برخه کې د جناب رسول الله مبارک حلم، تحمل، برده باری، فضل اوبښنه له حد نه هم زیات وو، حتی له هغه چاسره چې له ده سره به یې د عاطفې اوترحم مقاطعه کړې وه ، د ده له بښنې څخه نه محرومېدل، محمد ص د آزار اوازیت په مقابل کې لوړتحمل درلود چې د ځان تېرېدنې او بښنې ډېرروایتونه یې په (سیرت نبي) کې راغلي دي د هغه جناب حوصله په ډېرو مواردو کې سبب شوې چې مقابل لوری د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شي، حضرت محمد ص چې څومره توان او طاقت درلود عفوه یې کوله، یو وخت د غنیمت د ویش په مهال یوه (اعرابي) سوګند پورته کړ چې له ماسره عدل اوانصاف ونشو، اعرابي مرورشو اود تګ لاره یې خپله کړه، رسول الله مبارک په ډېره مهربانۍ وویل : له ما پرته به له ده سره څوک عدل اوانصاف کوي؟ ورشئ په نرمۍ او دلاساینه یې را وګرځوئ اوماته یې راولئ ، د بېرته را ګرځېدو په صورت کې ستونزه حل اواعرابي خوشحاله شو. د خیبرد جنګ دغنیمتونود وېشلوپر مهال یوه تن رسول الله مبارک ته وویل : چې په عدل ویش نه کېږي ده مبارک په ډېره مهربانۍ جواب ورکړ چې له ما پرته به څوک په داسې عدل وېش وکړي که زه عدالت ونه کړم نو تاوان به مې کړی وي ته داده اوسه که زما کوم حرکت ستا په نظر بې عدالتي ښکاره شو له نوروسره یې شریک کړه، حضرت عمر رض عنه ولاړشو او له رسول الله مبارک څخه یې (شاکي) ته د جزا ورکولوغوښتنه وکړه خو رسول الله مبارک غوښ وویل : چې هېڅکله به اجازه درنه کړم چې زما صحابي ته ضررورسوئ. د حضرت محمد مصطفی د حلم او برده باری نور د حیرانۍ مثالونه هم شته، په یوه جنګ کې چې مسلمانان په جګړه بوخت وو، یوه دښمن چې د مسلمانانو غفلت یې غنیمت وګاڼه ، ځان یې رسو ل الله مبارک ته ورساوه ، د هغه په مخکې یې توره وکښله او وویل : چې وایه ! اوس به د څوک زما له لاسه خلاص او نجات درکړي ، بهترین عالم پرته له دې چې وارخطا شي په ډېرلوړجرئت یې هغه ته وویل : چې الله ج به مې درڅخه خلاص کړي ، د کافرلاسونه ولړزېدل اوتوره ترې ولوېده او د رسول الله مبارک په لاس ورغله اوکافریې مخاطب کړ چې اوس ته وایه څوک به دې له ما څخه خلاص کړي ، کافرپه ډېره عاجزۍ وویل : نیکي کوه ، رسول مبارک ورته وویل : شاهدي ادا کوې چې الله یودی دین یې برحق دی او زه دده رسول او پیغمبریم ، سړي وویل : نه ! لیکن هېڅکله به وروسته له دې ستا اوستا له اصحابو سره جګړه ونه کړم اوستا له دښمنانو سره هم مرسته نکوم ، له دې وروسته زه یو بې طرفه کس پاتېږم حضرت محمد ص له ده څخه لاس واخیست او آزاد یې پرېښود ، دغه کس کله چې خپلو ملګرو ته را ورسېد نو وویل د ښو اخلاقو له څښتنه را ګرځېدلی یم او تاسې ته راغلی یم محمد ص ته زه په لاس ورغلم چې باید وژل شوی وای خو ویې نه وژلم بلکې ژوندی یې خوشی کړم .

د حضرت علي کرم الله وجهه څخه روایت دی چې یوځل زه ، زبیراومقداد رسول الله مبارک په دې موظف کړو چې د (خاخ) باغ ته ولاړ اوهغه کاغذ چې هلته له (ظعینې) سره دی ترې را واخلو کله چې موږ هغه ځای ته ورسېدو او ښځه مو پیدا کړه نوهغه د کاغذ څخه انکار وکړ په هغه موپټکه وکړه چې کالي دې شېندو، کاغذ پیدا کوو، نوهغې کاغذ له خپلو کوڅیوڅخه را وکېښ اوموږ ته یې را کړ په کاغذ کې د (ابي بلتعة) زوی حاطب د مکې معظمې د مشرکانو یوې ډلې ته د حضرت محمد ص د ځینو کارونواو ځانګړتیاوو په اړه معلومات لیکلي وو، حضرت محمد ص حاطب مخاطب کړ دا څه شی دي ؟ حاطب وویل : چې ځینې کسان په مکه معظمه کې خپلوان لري او له هغوی سره اړیکې لري او دخپل کور او اولادونو پوښتنه ترې کوي ، زه په مکه معظمه کې له چاسره خپلوي نه لرم نوځکه مې د هغه چا د خوشحالۍ لپاره چې زه ورسره خپلوي نه لرم دغه لیک ولیکه ، چې زما ماندینه او اولادونه وساتي دغه کارمې نه د (کوپر) له حیثه کړی اونه مرتد شوی یم ، حضرت عمر رض رسول الله مبارک ته وویل: اجازه راکړئ ، چې د دغه دوه مخي سر له تنې جلا کړم خو رسول الله مبارک وویل :

دی رښتیا وایې او دغه کس د بدرپه جګړه کې هم حاضرو ، ته د څه له رویه خبریې چې هغه کسان چې د بدرپه جګړه کې یې ګډون کړی و الله ج نه دي بښلي ، رسول الله مبارک به تل داخبره کوله ، زما یارانو ته نه ښایي چې د نورو خبرې ماته را وړي ، زه په دې خوشحالېږم او دا مې خوښه ده چې مخامخ له تاسې سره وګورم او له تاسې په خبرو خوشحاله شم او یوه ته مې هم په زړه کې څه نه وي .

# ساینس او مسلمانان

**لیکنه: عبدالرحمن عباس**

په ساینسي علومو کې مسلمانان یو لوی شمېر پوهان لري، چې د مسلمانانو د بې پروایې له کبله یې غربیانو نومونه بدل او د هغوی ټول نوښتونه یې د ځان بللي چې ځینې یې په لاندې ډول دي: جابر بن حیان نوم یې په (ګیبر) ابن سینا نوم یې په (ایوونا) ابن الهیثم نوم یې په (هیزن) او ابن رشد نوم یې په (اویروس) بدل کړې.

همدا وجه ده چې نن زموږ د ښوونځي زده کوونکي د خالد بن یزید، زکریا، رازی، ابن سینا، الخوارزمی، ابو ریحان البیرونی، الفارابی، ابن مسکویه، ابن رشد، الکندی، ابو محمد خوحبدی، جابر بن حیان، موسی بن شاکر، البتانی، ابن الهیثم، عمر خیام، المسعودی، ابو الوفاء، الزهراوی او داسې نورو ساینس پوهانو د ژوند او د هغوی له کارنامو څخه ناپیژانده دي.

له ډاکټر ذاکر نایک څخه په یوه مکالمه کې چا وپوښتل چې: نن ولې مسلمانان په پرمختګ او ترقي کې د کفارو څخه شاته دي؟

نوموړی ډېر لنډ او هراړخیز ځواب ورکړ: دا ځکه چې هغه وخت مسلمانانو د قرآن مجید سره ټینګې اړیکې لرلې او یو موټی ول.

نو که چیرې موږ خپلو ښوونځیو، پوهنتونونو او داسې نورو پوهنیځو ادارو ته ځیر شو په څرګنده یې ویلای شو چې په سلنه کې ۱۰٪ او یا له دې هم کم د ساینسی علومو مرکزونه په اسلامي چوکاټ جوړ او برابر دي، اوسمهال زموږ ښوونځي او پوهنتونونه د عیاشي او بربنډتیا په تم ځایونو بدل شوي، زده کوونکي مو د زده کړې نه بلکې د ساعت تیرۍ لپاره ښوونځیواو پوهنتونونو ته ځي، ددې علت دا دی چې مسلمانانو د پردیو کلتور او د پردیو افکارو ته په اسلامي کلتور او اسلامي مفکورې اولیت ورکړی.

اوس دا د ښوونکو یو لوی مسوولیت دی چې خپل زده کوونکي د امت مسلمه له ساینس پوهانو سره اشنا او د هغوی په پل باندې پل ږدلو ته تشویق کړي، او له دې څخه یې خبر کړي چې مسلمانانو هغه وخت اختراعات او نوښتونه کول چې غربیان د تمدن او پرمختګ له نوم سره ناآشنا ول، عربي د تمدن او پرمختګ ژبه وه،ده او وي به، عربي ژبه د نورو ژبو په پرتله په نړۍ کې لومړی مقام لري او یوه مکمله (بشپړه) ژبه ده، په غرب کې اکثره ساینسی کتابونه د مسلمانانو په عربي ژبه لیکل شوي د ساینسی کتابونو ژباړې دي.

کله مو چې زده کوونکي، ځوانان او نوی نسل د مسلمانانو ساینسي کارنامو څخه خبر شول او د هغوی په پل یې پل کیښود، نو یو ځل بیا به عربي چې یو مکمله او بشپړه ژبه ده د تمدن او پرمختګ ژبه وي، غربیان به په ساینسی علومو کې د اسلامي هېوادونو محتاج وي او اسلامي هېوادونو ته به د عربی ژبې او ساینسی علومو د زده کړې لپاره راځي.





# شعر او ادب

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

کف خاکم چسان مقبول جست‌وجوی او گردم
فلک در گردش آیم تا به گرد کوی او گردم
دل مأیوس صیقل می‌زنم عمری‌ست حیرانم
نگشتم آینه تا قابل زانوی او گردم
جهانی را زدم آتش سراغ دل نشد پیدا
روم اکنون غبار خاطر گیسوی او گردم
محبت صنعتی دارد که تا محشر درین وادی
روم از خویش هر گه بازگردم سوی او گردم
وفا در وصل هم آسودن عاشق نمی‌خواهد
بیا تا گرد شوق قمری و کوکوی او گردم
خس معذور و ذوق الفت آتش جنون است این
به خاکستر رسم گر آشنای خوی او گردم
رمیدن در سواد صیدگاه دل نمی‌باشد
تو صحرای دگر بنما که من آهوی او گردم
چه امکانست با وضع کسان گردم طرف بیدل
که من چون آینه با هر که بینم روی او گردم

***

عمری‌ست ز اسباب غنا هیچ ندارم
چون دست تهی غیر دعا هیچ ندارم
تحریک لبی بود اثر مایهٔ ایجاد
معذورم اگر جز من و ما هیچ ندارم
تشویق خیالات وجود و عدمم نیست
چون رمز دهانت همه جا هیچ ندارم
یا رب چقدر گرم کنم مجلس تصویر
سازم همه کوک است و صدا هیچ ندارم
چون شمع اگر شش جهتم پی سپر افتد
غیر از سر خود در ته پا هیچ ندارم
وامانده یأسم که از این انجمن آخر
برخاستنی هست و عصا هیچ ندارم
مغرور هوس می‌زیم از هستی موهوم
فریاد که من شرم و حیا هیچ ندارم
همکسوت اسباب حبابم چه توان کرد
گر باز کنم بند قبا هیچ ندارم
شخص عدم از زحمت تمثال مبراست
آیینه! تو هیچم منما هیچ ندارم
بیدل اگر آفاق بود زیر نگینم
جز نام خدا نام خدا هیچ ندارم

## غزل

**انس حقاني**

د عمرونو باور وباسي له منځه
د تندیو ترمنځ تېره مه شه ګونځه
بینا عقل به په خپله کینه ړوند کړي
د عقدو قیدي! ازاد شه، مه مې ښکنځه!
د وطن د لیلا څنې ګډې وډې
د مجنون پنجه دې خدای کړی ورته ږمنځه
مینه څه ده؟ د فرهاد د لاس تېاکه
دنیا څه ده؟ د قارون د لاسو ښنځه
چې د ځانګو موسیقۍ ته یې ویده شم
ددې ښار ونو کې نشته د غره لمنځه
مبتلا چې په دې رنځ شي صحت یاب شي
مه شه روغ انسه څوک د عشق له رنځه

# افغان اعلانات

## اطلاعیه لیلام

موسسسه بین المللی اسلامیک ریلیف (IRW) در نظر دارد به تعداد ۱۹۸ اقلام داغمه جات خویش را به لیلام و مزایده بگذارد که شامل کمپیوتر لپ تاپ ، دسک تاپ ، جنراتور ، یخچال ، چوکی فلزی چرخی ، بیلر ۲۰۰ لیتره ، تلویزیون ، مبایل و دیگر اجناس میباشد.

بناء شرکت های دولتی و خصوصی ، اشخاص و افرادیکه خواهش اشتراک در پروسه لیلام متذکره را داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی ۱۰ می ۲۰۲۳ روز چهار شنبه ساعت ۲:۰۰ بجه بعد از ظهر به آدرس ذیل تشریف بیاورند.

آدرس: کابل ، شهر نو روبروی لوی ښارنوالی خانه نمبر ۱۷ .

شماره تماس :۰۷۸۱۴۳۷۷۰۴

ایمل آدرس : IRA.SC@Islamic-relif.irg.af

۵۸۸

***

موضوع: د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د ۲ عرادي دولتي موټرو د پلیټونو د لادرکۍ اعلان.

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د ۲ عرادي دولتي جنترا موټرو پلیټونه چې شمېرې یې ۱۴۵۴۷ او ۱۴۵۵۴ دي او د لیسانس د جواز کتابچې یې د اوسپنې پټلۍ اداري په نوم دي لادرکه شوي دي، یاد پلیټونه نور د اوسپنې پټلۍ اداري پوري اړه نه لري، د لادرکۍ اعلان یې د دې لیک پرمټ ستاسو محترم ریاست ته در واستول شو، هیله ده یاد خبر اعلان ته وسپارئ.

***

د داوطلبۍ خبراوی

د دواطلبۍ ګڼه:

AHSP/1402/NCB/G -004

د خوندي سندونو د چاپ دولتی شرکت، ټولو لیوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو ددې شرکت د چاپ ماشینونو لپاره پرزه جات او مصرفي موادو پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر ترلي/ بند آفرونه د شرطپاڼې د شرایطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۲ کال د جوزا میاشتې تر (۱۴مه) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحیې اړوند، چهلستون عموي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ دولتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمریت ته تسلیم کړي. هېره د نه وي چې نا وخته رسیدلي او د ایمیل له لارې راغلي آفرونه نه منل کیږي.

همدارنګه د یادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمریت څخه او یا هم (Hadi.ahmadzai@ahsp.af او کاپی: mk.marwan@ahsp.af ) برښنالیکونو ته د برښنالیک استولو له لارې تر لاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي د آفر تضمین د شرطپاڼې د شرایطو سره سم، د ۱۵۰،۰۰۰ افغانیو په ارزښت، په بانکي او یا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره یوځای وړاندې کړي. د یادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۲ کال د جوزا میاشتې په (۱۴مه) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجې د کابل ښاروالۍ د اومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل د خوندي سندونو د چاپ دولتي شرکت ، د غونډو په تالار کې نیول کیږي.

***

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت فقیر اریانا لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۸۸۴۸-۴ ش کابل نوع تویتا هایلکس دوسیته خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای د افغانستان بانک بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۶۱۱

***

## اطلاعیه محکمه

اوراق دعوی حقوقی مسمات شفیقه بنت محمد کریم علیه محمد فرید و محمد ضمیر ولدان محمد صادق در رابطه به مطالبه پول تحت غور و بررسی این دیوان قرار دارد.

از اینکه مدعی علیه مذکور با وجود جلب های متعدد غرض پیشبرد دعوی حقوقی اش حاضر نگردید.

بناء به اطلاع اسامیان هر یک محمد فرید و محمد ضمیر مدعی علیهم مذکور و یا اگر کسی از آنها اطلاعی دارد رسانیده میشود تا در ظرف ۱۵ یوم به محکمه ابتدائیه زون چهارم شهر کابل غرض پیشبرد دعوی خویش حاضر گردند در غیر این صورت در مورد فیصله غیابی صورت خواهد گرفت.۶۱۸

***

## تغییر اسم مالکیت صرافی

د افغانستان بانک قبلا جواز شماره ۱۰۱ رابه اسم شرکت صرافی آفتاب امید صادر نموده بود اکنون سهمدار شرکت یاد شده میخواهد که اسم تجارتی شرکت را به نام برادران آفتاب امید تغییر دهد. ۵۹۶

***

## اطلاعیه تقرری

قرار است محترم غلام ربانی فرزند سکندر خان دارنده تذکره نمبر ( ٤٥١٧٧٣ ) مسکونه فعلی ناحیه ۱۵ در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید اگر به دوایر و موسسات مسولیت داشته باشند الی مدت یک هفته در ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.۵۹۱

***

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز دارای شماره ۳۸۰ مربوط بنیاد زنان و کودکان نابینایان افغانستان مفقود گردیده بناء از اعتبار ساقط می‌باشد. ۶۰۰۰

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم مسعود احمد قادری فرزند حاجی تورپالی قادری ولدیت حاجی عبدالقادر قادری دارنده تذکره نمبر ( ۳٤٥٧٤-۱۰۰۰-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت غزنی مالک دواخانه قادری درملتون واقع ناحیه مرکز ولایت غزنی طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم شریف الله فرزند علی محمد ولدیت علی جان دارنده تذکره شماره ( ٢٤٠٦٩٣٠٣ ) مسکونه اصلی ولایت غزنی گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۵۹۲

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ۱۷ اطاقه ضرورت مکتب متوسطه غازی محمد حسین شهید را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه پنجم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نماید. ۶۰۲

***

## کرایی کور اړتیا ته خبر تیا

د کابل ښار پوهني ریاست د خپلو زده کوونکو د ۱۴۰۲ کال د تدریسي لپاره په (اوومه) حوزه کي د ( ۱۲ ) خونو کور د فاطمه الزهرا لومرني منځني ښوونځي لپاره اړتیا لري ، هغه کسان چي د یاد ښوؤنځي په سیمه کي دا ډول تعمیر ولري او وغواړي چې په کرایه قرار داد وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي له خپریدو نیټي څخه تر ۲۱ ورځو پوري د کابل ښار پوهني ریاست د تدارکاتو لوی مدیریت ته د څلورمی کارتي په سرای غزني سیمه کي وسپاري او شرطنامه دي وګوري . ۵۶۰

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد عمر ولیزاده فرزند محمد ولی اختری ولدیت طالب اختری دارنده تذکره نمبر ( ۲۵۲۷۰-۰۵۰۰-۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک دواخانه سمیرداد گر واقع مرکز ولایت سمنگان طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم زین الدین رحیمی فرزند میرزا غلام ولدیت محمد رحیم دارنده تذکره شماره ( ۵۵۶۳۶-۱۰۰۳-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت سمنگان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۶۲۲

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد رفیع فرزند محمد نادر ولدیت حاجی نور محمد دارنده تذکره نمبر ( ۱۶۴۵۵۵۷۵ ) مسکونه اصلی ولایت فاریاب وکیل شرعی دواخانه واقع ناحیه ششم ولایت بلخ طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد جمشید بشیری فرزند محمد عمر ولدیت میرعالم دارنده تذکره شماره ( ۰۴۶۰۲-۱۰۰۲-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۶۲۰

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم سردار گل فرزند انارگل ولدیت شرگل دارنده تذکره نمبر ( ۵۴۲۰۶۰ ) مسکونه اصلی ولایت لغمان مالک دواخانه عبید احمدزی واقع ناحیه شانزدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم اجمل بشیرزاده فرزند سردارولی ولدیت عبدالله جان دارنده تذکره شماره ( ۹۷۷۸۶-۰۳۰۰-۱۴۰۱ ) مسکونه اصلی ولایت لوگر گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۶۲۱

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ۱۰ اطاقه ضرورت لیسه دوغ آباد را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه سیزدهم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمانید. ۶۰۳

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ۱۹ اطاقه ضرورت مکتب ابتدائیه نیازبیک را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه پنجم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمانید. ۶۰۱

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ۲۰ اطاقه ضرورت سواد حیاتی تهیه و مسکن را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه هفدهم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمانید. ۵۹۹

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ٦ اطاقه ضرورت لیسه قابلبای را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه نهم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمانید. ۵۹۸

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ۱۸ اطاقه ضرورت مکتب متوسطه باغ بالا را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه پنجم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمانید. ۵۹۳

***

## اعلان مجدد داوطلبی پرزه جات ترمیمات وسایط اداره

وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تدارک پرزه جات و ترمیمات وسایط نقلیه دارنده تشخیصیه ANDMA/NCB/1402/G&S-1 اشتراک نموده و شرطنامه مربوط را در فلش بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی روز آفرگشایی به آمریت تدارکات واقع کوچه شفاخانه ملالی، مقابل برج شهر آرا ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر مبلغ (۱۲۰،۰۰۰) یکصدو بیست هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱٤۰۲/۳/۷ روز یکشنبه ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر در دفترآمریت تدارکات، منزل اول، بلاک B تدویر می‌گردد.

***

## اطلاعیۀ تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: قرارداد تدارک ۱۵ قلم میوۀ تازه

بدینوسیله به تأسی از فقرۀ (۲) مادۀ چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود که ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء در نظر دارد قرارداد تدارک ۱۵ قلم میوۀ تازه ضرورت آمریت خدمات دارای تشخیصیه نمبر (NCB/RE/1402/COSP/G/004) را با شرکت زراعتی و مالداری تاج محمودی، واقع قول اردوی کهنه ناحیۀ اول، کوچۀ دوم خانۀ نمبر اول، مرکز کندهار، کندهار دارندۀ جواز نمبر (٥٣٨٥٢) وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی (۹۸۲,۵۰۰) نه صدو هشتاد و دو هزارو پنج صد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق حکم مادۀ پنجاهم قانون تدارکات به آمریت تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## هلمند کې سلګونه مېوه لرونکي...

د کرنیزو خدمتونو عمومي مدیر قاري محمد نسیم مسلم، د سولې بنسټ ولایتي مســـوول انجنیر خالقداد جلال، د نیالګیو او قوریه لرونکو د ټولنو مسوول حاجي احمد شاه، د رسنیو همکارانو او ګڼو بڼوالو د ناوې ولسوالۍ اړوند عینک په سیمه کې په نمونوي ډول له ځو بڼونو لیدنه وکړه.
د دغې لیدنې پرمهال د یادې ســیمې بڼوالو د حاصلاتو خوښــي وښـــوده او ویې ویل، چې تازه یې د حاصلاتـــو راټولولو او بازار ته د وړاندې کولو چارې پیل کړې، چې له نیکه مرغه یې شفتالو ښه بازار لري او په لوړه بیه پلورل کېږي.
بڼوالو دغـــه راز د کرنــې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاســـت څخه وغوښتل، چې د بڼونو جوړولو برخه کې ورسره نوره همکاري هم وکړي او دغه لړۍ ټولو ولســـوالیو ته وغځوي. په همدې حال کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاســـت مرستیال مولوي زین الله زاهد بڼوالوته په دې برخه کې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## بغلان کې د شاتو مچیو صنعت...

له امله یې د شـــاتو تولید کم شـــوی دی. معلم محمد ســـالم په بغلان کې د مچیو درلودونکی وایي، چې تېر او سږ کال په بغلان کې د شاتو تولید کچه راټیټه شـــوې او دغه راز یې د شاتو لسګونه صندوقه مچۍ د وروستیو اورښتونو او دوړو له امله مړې شوې دي.
ســـالم زیاتوي، چې که حکومت او اړونده بنسټونه د شاتو د مچیو له کوپراتیفونو سره مرســـتې ونه کړي نو په دې ولایت کې به دغه صنعت د له منځه تلو له ګواښ سره مخ شي.
په همدې مهال د افغانســـتان د شاتو د مچیو د همغږۍ د اتحادیې مسوول عبدالرب حمیدي وایي، چې د شاتو د مچیو صنعت ۴۰ سلنه په دې ولایت کې ډېر شوی خو د شاتو تولید بیا کم شوی دی.
حمیدي که څه هم کره شمېرې په لاس کې نه لري خو وایي، چې د مچیو لپاره د خوراکي موادو نشتوالی، بې وخته اورښتونه او ناسم موسم د شاتو د تولید د کمېدو اصلي لاملونه دي.

## کندز کې څه باندې ۱۲ زره متریک ټنه د غنمو...

۱۷ زره ۳۲۰.۶۱ جریبـــه ځمکه کې پر ۱۶۰۱ ټنه بزګرانو مورنی، بنیادي او تصدیق شوي تخمونو د تولید په موخه وېشل شوي دي.
د کندز د کرنې ریاســـت چارواکي زیاتوي، چې دغه شمېره کرل شوي تخمونه د کندز، بغلان، تخار او بدخشان په کرنیزو څېړنیزو فارمونـــو کې کرل شـــوي، چې د تفتیش دوه مرحلــې یې پای ته رسېدلي او نږدې ورځو کې به یې آخري تفتیش هم پیل شي.
د کرنې ریاســـت د اټکل له مخې؛ وېشل شـــوو له تخمونو به ۱۲ زره متریـــک ټنه اصلاح شـــوي او بـــا کیفیته تخمونه تولید شــــي چــې دا تخمونـــه د امراضـــو، آفاتو پـــر وړاندې به مقـــاوم او لوړ حاصل ولري.

## له کندهاره د ۳۳۱ میلیونه ډالرو ...

طبي بوټي او نـــورو بېلابېل توکي شـــامل دي. دغه صادرات تـــر ټولو ډېـــر پاکســـتان، هنـــد، عربـــي متحـــده اماراتو او ځینــــې اروپایـــي هېوادونـــو ته ته صـــادر شـــوي دي. بلخوا د کندهـــار ســـوداګر وایــي، لا یــې بانکـــي محدودیتونـــه او یـــو شـــمېر نـــورې ســـتونزې د ســـوداګرۍ پـــر وړانـــدې خنډونه دي.

## با رسانه‌های که حقایق را بازتاب می‌دهند...

امارت اســـلامی افغانســـتان به آزادی مطبوعات بر اساس حقایق و واقعیت‌ها احترام دارد و عملاً آن را در کشـــور اجازه داده اســـت به فعالیت آنعده رسانه‌ها و خبرنگاران که واقعیت‌ها را نشـــر می‌کنند و تصویر واقعی جامعه را انعکاس می‌دهند به دیده قدر نگریسته و آماده‌ی هر گونه همکاری با آنان است.
معاون سیاســـی ریات الوزراء می‌گوید: امارت اسلامی به آزادی بیان ســـازنده، ســـالم و اصلاحی در کشور متعهد بوده و عملاً زمینه بهتر فعالیت را برای رســـانه ها فراهم کرده است. احکام اسلامی به بیان حق و آزادی بیان سالم و انتقـــادات اصلاحی امر کرده اســـت و به احترام به این ارزش ها تاکید می کند. ما آزادی سالم و سازنده و تقویت مطبوعات را برای اصلاح جامعه، کاهش فاصله میان مردم و امارت و پایان بخشیدن به مشکلات، مهم می دانیم.
مولـــوی عبدالکبیر می‌افزاید: برای همکاری با رســـانه‌ها و احتـــرام به آزادی بیان اطمینان می‌دهیم و از رســـانه‌ها، تحلیلگران سیاسی و دست اندرکاران مطبوعاتی و مدافعان آن می خواهیم که نشرات، خواست‌ها و اظهارات شان را با توجه به شرایط واقعی عینی، تحکیم وحدت ملی، رعایت به ارزش‌های اســـلامی و ملی و نظریات ســـازنده استوار نمایند و امیدوار هســـتیم که رسانه‌های کشور و همکاران عرصه مطبوعات تحت تأثیر تبلیغات رســـانه‌ها و حلقات مغرض بیرونی قرار نگیرند و با روحیه بلند افغانی، دینی و ملی برای دین و مردم خود کار نمایند.

## د عالیقدر امیرالمؤمنین په فرمان ...

په توګه، د ملي دفاع وزارت د ســـتراتیژیکو استخباراتو معین ملا محمد علي حنفي د کندهار د سرپرســـت والي په توګه، د ۲۰۷ الفاروق قـــول اردو مخکینی قومندان قاري محمد ایوب خالد د کونړ د والي په توګه، د میدان وردګو د والي مخکینی مرســـتیال شـــیخ بشیر احمد حقاني د نورســـتان د والي په توګه، د غزني د والي مخکینی مرستیال قاري ګل حیدر شفیق د جوزجان د والي په توګه، د سرحدونو اوقبائلو چارو وزارت مخکینی معین مولوي عبدالرحمان حقاني د بغـــلان د والي په توګه، د بغلان مخکینی والي مولوي ســـمیع الله حزب الله، د کندهار د امنیه قومندان په توګه او د کندهار ولایت مخکینـــی امنیه قومندان مولوي رحیم الله محمود د غزني د والي د مرستیال په توګه و ټاکل شول.

## له ټولشموله حکومته مطلب ...

بې وزله او محتاج انســـان د رحـــم او خواخوږۍ عاطفه نه لري.
هغه فسادونه او فتنې راپاروي او د لکونو وګړو له وژل کېدو، کور وړانېـــدو او کډوالۍ خوندونه اخلي. خو بل لورته افغان ملت بیا د پردیو دې ډول خبرو ته هېڅ ارزښت نه ورکوي او یوازنی ارمان یې دادی چې حکومت که د هر چـــا وي احمد او محمود ورته بې توپیـــره دي خو چې خپلواک وي، د افغانانو د ســـر، عزت، ناموس، دین او نورو معنوي ارزښتونو ساتونکی، هېواد پالونکی او د خلکو لپاره خدمـــت کوونکی وي- افغان ولس به هېڅکله د یو داســـې حکومت ارمان او غوښتنه و نه کړي چې په یوه ارګ او یوه ورځ کې دوه ولس مشـــران د خپلې باچایۍ اعلان کوي او بیا یو سورپرنګی راځي او دواړوته سم په نیمایي واک وربېلوي. دا خلک نور له دې ډول شـــرمندګیو ســـخت بېزار او ډېر ستړي دي، البته زموږ خواص او عوام به ضرور دا غوښـــتنه کوي چې له اخلاص، ښه تنظیم او خدمت ســـره سره دا هم د رعیت یو حق دی چې نظام یې پر شـــورائیت بناوي، ټولـــو قومونو، ټولنیزو او مســـلکي ډلو ته په ښه سترګه وکتل شـــي او هر څه یوې ډلې، یو قوم او یوې ســـیمې پورې تړلي نه وي. ځکه ټول په دې پوهېږي چې موږ د خیرالقرون نه بلکې د پنځلســـمې هجري پېړۍ خلک یو. نو که د واکمنو ترڅنګ یوه مقتدره شورا نه وي او د عام ولس له اعتراضه ونه ډارشي، خامخا به نیمګړتیاوې ترې پېښیږي او د شخصي استبداد یو ناوړه صورت به منځ ته راځي چې بیا به هم خالـــق ناراض وي، هم مخلوق خپه. لنډه دا چې د پردیو دا ډول اعتراضات او فرمایشـــات هېڅکله د اوېدو نه دي، دا مو له کاره باســـي، وختونه او فرصتونه مو ضایع کوي او په شـــرو فساد مو اړوي، خو په همدې ترڅ کـــې بیا موږ خپله باید مصالح وپېژنو او د لاډېر ســـمون لپاره له نصیحت او یادښته ډډه و نه کړو.

## افتتاح یک لابرتوار تعیین کیفیت ...

مولوی عبدالسلام حنفی با تاکید بر اهمیت و جایگاه اداره ملی غـــذا و ادویه در ارائـــه خدمات معیاری برای مـــردم' افتتاح این لابرتوار را یک گام بلند برای تثبیت کیفیت مواد غذایی در کشور خواند که می‌تواند مصونیت غذایی را تامین کند.
وی تاکید کرد که بعد از این تمامی مواد غذایی که وارد کشـــور می‌گردد باید در لابراتوارهای کنترول کیفیت این اداره بررسی و بعداً به دســـترس هموطنان ما قرار گیرند. معاون اداری ریاست الوزراء حفظ صحت مردم را از وجایب دولت و تاجران دانست و هشدارداد آنانی که مواد دغذایی بی کیفیت را وارد کنند' مجازات خواهند شد و جواز فعالیت شان باطل خواهد گردید.
در همین حال، داکتر عبدالباری سرپرست اداره ملی غذا و دارو، در مراســـم افتتاح این لابراتوار گفت که ساخت این آزمایشگاه ۲۵۰ هزار دالر امریکایی هزینه برداشـــته است که با بهره‌برداری از این جلو ورود مواد غذایی بی کیفیت به کشور، گرفته خواهد شد.
سرپرســـت اداره ملی غـــذا و ادویه گفت در آینـــده‌ی نزدیک ۴ لابراتوار بزرگ کنترول ادویه در زون‌ها و ۸ لابراتوار کنترول مواد غذایی را در ولایات ایجاد خواهند کرد تا مصونیت غذایی تامین شود. از سوی دیگر، محمد یونس مهمند، رئیس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری کشـــور می‌گوید که مسوولین قندهار در گذشته، برای تعیین و کنترول کیفیت مواد غذایی هفته‌ها در کابل انتظار می‌کشیدند، تا لابراتوار مرکزی کابل مواد غذایی شان را آزمایش و کنترول می‌نمودند، اما اکنون جای مسرت است که این جا (در قندهار) یک لابراتوار مجهر تعیین کیفیت مواد افتتاح گردید.
به گفتهٔ مســـوولان: این لابراتوار ظرفیت معاینه و بررسی بیش از ۱۰۰ نمونه را در روز دارا میباشد.

## ریاست احصائیه خوست نزدیک به ۳۱...

این ولایت توزیع نموده است و از این درک بیش از ۳۰ میلیون و ۸۰۰ هزار افغانی به خزانه دولت واریز شـــده اســـت. در خبرنامه آمده است که در ولایت خوســـت سه مرکز توزیع تذکره الکترونیکی فعال است و روزانـــه حدود ۴۰۰ متقاضی برای اخذ تذکره الکترونیکی و کاغذی به این مراکز مراجعه می‌کنند. گفتنی است، ریاست احصائیه و معلومات خوست، در سال گذشته برای ۸۴۶ تن خدمات اصلاح تذکره کاغذی و برای دوهزار ۸۳۶ تن دیگر خدمات ثبت تولدات، وفیات، ازدواج و طلاق، ارائه کرده است.

## د ګوتریش څرګندونې له واقعیته...

څخه ملي بودیجه جوړه شـــوه، د رښې حکومتولۍ بنسټ کنښېښودل شو، په ســـلګونو زره نارینه او ښځینه دولتي کارکوونکو ته تر نن ورځې پورې پر ټاکلي وخت معاشونه ورکول کېږي، په پراختیایي برخه کې مهمې اقتصادي پروژې په کم پرمختیایي لګښـــت پیل شوې، زرګونه افغانانو ته په مستقیم او غیر مســـتقیم ډول د کار زمینه برابره شوې، ســـوداګرۍ او پانګوونې ته اړینې اسانتیاوې رامنځته شوې، د وارداتو، صادراتو او ټرانزیټ کچه لوړه شـــوې، د کورنیو تولیداتو د هڅونې لپاره د پام وړ اقدامات تر سره شوي او په بېلابېلو برخو کې د بهرنیو او کورنیو پانګوالو له لوري پانګوونې شـــوې، یادو ټولو اقتصادي تعاملاتو د افغانستان اقتصادي وضعیت یو مثبت لوري ته سوق کړي، چې څرګندې بېلګې یې په دې وروستیو کې نړیوال بانک او د روښتیا نړیوال سازمان هم وړاندې کړې دي.سره له دې، چې د افغانستان ملي شتمني په ظالمانه ډول کنګل شوې، بانکي سکټور ته ستونزې جوړې شوې، خو بیا هم د افغانستان اسلامي امارت د بریالیو اقتصادي تګلارو پر مټ د افغانۍ پولي ارزښت ساتل شوی، بانکي سکټور په ملي کچه د پام وړ پرمختګونه لري او افغانانو ته اړین خدمات وړاندې کوي.
مالیې وزارت په ټولو نړیوالو ســـازمانونو ږغ کوي، تر څو د افغانستان روان وضعیـــت په دقیق ډول او پر حقایقو ولاړ تحلیل کړي او په تړاو یې دوی ته متوجه مسؤلیتونه په بې پرې ډول ســـرته ورسوي، تر څو دوه اړخیزو مثبتو اړیکو ته زمینه برابره شـــي او د افغانانو اقتصادي وضعیت ته په سمه توګه رسېدنه وشي. په اوسنیو شرایطو کې د افغانانو په وړاندې د نړیوالو سازمانونو ستر مســـؤلیت دا دی، چې د افغانانو د کنګل شوې شـــتمنۍ د آزادولو او پر بانکي ســـکټور د غیر مشـــروع بندیزونو د لیرې کولو لپاره په بې پرې او عملي توګه اقدامات ترســـره کړي او نړۍ دې ته وهڅوي تر څو د رامنځته شوو فرصتونه څخه په ګټې اخیستنې سره، په اقتصادي برخو کې مستقیمو دوه اړخیـــزو مثبتو تعاملاتو د رامنځته کېدلو لپاره عملي اقدامات وکړي، د بشري مرستو تر څنګ پراختیایي مرستې هم شروع کړي؛ تر څو د افغانستان اقتصادي وضعیت لا بهتر شي او د افغانانو شته اقتصادي ستونزو ته په ګډه د پای ټکی کېښودل شي. افغانان دا وړتیا لري، چې پر خپلو پښو ودرېږي

## د مولوي امیرخان متقي په مشرۍ ...

د بهرنیو چارو وزیر او ورسره ملګري پلاوي ته تود هرکلی ویلی.
د بهرنیو چـــارو وزارت مرســـتیال ویاند حافظ ضیاء احمـــد پر ټویټر لیکلي، مولوي امیر خان متقي به د افغانستان او پاکستان د دوو اړخیزو سیاسي-تجارتي اړیکو، سیمه‌ییز ثبات او ټرانزیټ په اړه خبرې وکړې.
د غونډې په څنډه کې به د بهرنیو چارو سرپرست وزیر به د افغانستان، چین او پاکســـتان د بهرنیو چارو وزیرانو په شـــپږمه درې اړخیزه غونډه کې هم ګډون وکړي او د افغانستان او چین د بهرنیو چارو وزیران به دوه اړخیزې خبرې هم ولري.

## ترک‌ها آماده‌ی سرمایه‌گذاری در بخش...

با جهاد ارگین ســـفیر ترکیه دیدار نمود. در این دیدار سرپرســـت وزارت معـــادن و پترولیـــم روی روابط نیک دیرینه و دوســـتانهٔ کشـــور ترکیه با افغانســـتان صحبت نموده، همچنان در رابطه به آغاز کار و اســـتخراج پروژه‌ی نفتی حوزه افغان تاجک که قبلاً قرارداد گردیده بحث و تبادل نظر نمودند. سرپرســـت وزارت معادن و پترولیم ، یاد آوری نمود که، با توجه به بهبود شرایط امنیتی فرصت‌های زیادی سرمایه‌گذاری روی معادن در افغانستان، فراهم گردیده است و ما سعی می‌نمایم تا سرمایه‌گذاران ملی و بین المللی، به خصوص سرمایه‌گذاران کشور دوست ترکیه نیز بتوانند از این فرصت استفاده نمایند. سفیر کشور ترکیه ضمن تأکید روی تحکیم روابط تجارتی و اقتصادی با افغانســـتان گفت: سرمایه گذاران کشورش آماده است در بخش‌های مختلف در افغانستان از جمله معادن این کشور سرمایه‌گذاری کنند.

## مجازات تیزرانی موترسایکل...

تیز رانی موترســـایکل ســـواران در بادغیـــس ، باعث وقوع رویدادهای دلخراش ترافیکی شـــده اســـت. مسوولان پولیس بادغیس می گویند:
نیروهای امنیتی، ده ها موترسایکل را که رانندگان آن، تیز رانی می‌کردند، از گوشـــه و کنار شـــهر جمع آوری کرده است. در گام نخست، به رانندگان موترســـایکل‌ها، گوشزد می‌شود که تیزرانی نکنند اما اگر این عمل تکرار شـــد، آنان مورد پی گرد قانونـــی قرار خواهند گرفت.شـــهروندان بادغیس از این اقدام پولیس استقبال کردند وآن را باعث کاهش رویدادهای خونین ترافیکی خواندند.

## د بلخ ولایت خلم ولسوالي له سمنګانو...

دغه ولسوالي د یادې ولسوالۍ اوسېدونکو په غوښتنه له بلخ ولایت څخه ســـمنګانو ولایت ته د اسلامي امارت د ریاســـت الوزرا د عالي مقام له تائیدۍ وروسته سمنګانو ولایت اړوند شوه. د یادونې وړ ده، چې له دې وروسته به بلخ ۱۳ اداري واحدونه او سمنګان به ۷ اداري واحدونه ولري.

## د قابله ګانو لپاره کاري...

په همدې حال کې د افغانســـتان د عامې روغتیا وزارت وایي چې کاري فرصتونه ورته ډېروي. د عامې روغتیا وزارت په دې برخه کې تېر حکومت ملامتوي چې د قابلو اړتیا ته په کتو یې هغوی ته کافي کاري فرصتونه نه دي برابر کړي او وایي، دوی دې کمې ته متوجه دي او حلوي یې.

## سوډان کې د بند پاتې افغانانو دویمه...

چې په سوډان هېواد کې د بند پاتې افغانانو دویمه جوپه، چې ۴۳ تنه کېږي نن کابل ته را ورسیده. د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال وایي، چې دغه افغانان څو ورځې وړاندې له سوډان څخه د سعودي عربستان جدې ښار ته انتقال شوي وو. نوموړي زیاته کړه، چې د سوډان په جګړه کې د بند پاته نورو افغانانو د ایستلو په اړه په خپل ټول توان سره کار او هڅه کوي، چې ژر تر ژره نور افغانان هم له دې هېواد څخه خوندې سیمو ته انتقال کړي.

## بلخ کې د کورنیو تولیداتو پنځه ورځنی...

«شـــهروند مســـوول» موسســـې په ګډه هکارۍ د کورنیو تولیداتو پنځه ورځنی ننداړتون پرانیســـتل شـــو. د دغه ننداړتون د پرانیستلو پرمهال د یاد ولایت د صنعت او ســـوداګرۍ خونې رییس امام الدین سنایي زاده د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا په موخه له ولایتي اداري وغوښتل، چې بلخ کې د کارخونو د بریښنا لګښتونه راکم کړي.
ســـنایي زاده د دغه ننداړتون موخه د کورنیو تولیداتـــو پیاوړتیا یاده کړه او له ټولو خلکو یې وغوښـــتل، چې د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا په موخه له کورنیو تولیداتو ګټه واخلي. ورته مهال د بلخ د بریښـــنا حوزې رییس مولوي سردارولي حمزه د دغه ننداړتون پرانیستلو خوښي وښوده او صنعت کارانو ته یې د بریښناپه برخه کې د شته ستونزو د حل ډاډ ورکړ. په همدې حال کې د شهروند مسوول موسسې رییس ثمرالدین اشرف زاده وویل، چې دغه ننداړتون یې کورنیو تولیداتو د پیاوړتیـــا او بازارموندنې په موخه جوړ کړی، چې په ۷۰ غرفو کې بېلابېل کورني تولیدات ننداړې ته ایښودل شوي دي. د یادونې وړ ده، چې د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا پـــه موخه دغه دوهم ننداړتون دی، چې پرانیستل کېږي.

## ستندرد ملي اداري د نفتي توکو...

ټول هېواد کې له ۱۰۰۰ ډېر پمپ سټېشـــنونه او زیرمې کتل شوي، چې له ۴۰۰ ډېر پمپ سټېشنونه او تېل زیرمې تړل شوې دي. د ستندرد ملي اداره له ټولو ســـوداګرو غواړي، چې د بې کیفیته توکو له تولید، عرضې او واردولو څخه ډډه وکړي. دې اداري زیاته کړې، چې د تېلو د کیفیت په اړه لابراتواري ازموینې ترسره او د غیر معیاري تېلو واردولو ته څوک نه‌پرېښودل کیږي.

## ننګرهار کې ۲۰ میلیونه نیالګي...

او شاوخوا ۴۰۰۰ کسانو ته پکې د کار زمینه هم برابره کړې. هغه وایي، د روانو اوبو سیســـتمونه او ۲۸ کیلو متره ویالې یې جوړې کړي، او ډېر ژر بـــه د ځمکې لانـــدې د اوبو کنټرول په موخـــه د څاڅکو اوبه خور سیستم لا پر مختللی او رامنځته کړي.

## هلمند کې د شفتالیو په حاصلاتو کې...

بانـــدې شـــفتالو، انګور، پلـــم، انځیر او د انارو باغونـــه د هلمند ولایت د کرنې د ریاســـت او یو شـــمېر همکاره موسســـو په مرسته جـــوړ شـــوي دي. په همدې حال کـــې د هلمند ولایت یو شـــمېر بزګـــران ددې باغونو لـــه جوړېدو څخه د خوښـــۍ تر څنګ وایي، چــې له دوی ســـره دې د کرنــې په برخـــه کې لا ډېرې مرســـتې وشي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Saturday 06 May 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 173

# سوډان کې د بند پاتې افغانانو دويمه جوپه هم را ورسېده

د بهرنيو چارو وزارت ويلي، چې په سوډان هېواد کې د بند پاتې افغانانو دويمه جوپه، چې ۴۳ تنه کېږي پرون کابل ته را ورسېده.
د بهرنيو چارو وزارت د وياند مرستيال وايي، چې دغه افغانان څو ورځې وړاندې له سوډان څخه د سعودي عربستان جدې ښار ته انتقال شوي وو. نوموړي زياته کړه، چې د سوډان په جګړه کې د بند پاتې نورو افغانانو د ايستلو په اړه په خپل ټول توان سره کار او هڅه کوي، چې ژر تر ژره نور افغانان هم له دې هېواد څخه خونديو سيمو ته انتقال کړي.
سوډان کې د بند پاتې افغانانو دويمه جوپه هېواد ته را ورسېده
د بهرنيو چارو وزارت وايي، ۷مخ




# افتتاح لابرتوار تعیین کیفیت مواد غذایی در قندهار

شریعت: یک لابراتوار مجهز کنترول و تعیین کیفیت مواد غذایی به هزینۀ ۲۵۰ هزار دالر امریکایی از سوی اداره ملی غذا و دارو در قندهار ایجاد و به بهره‌برداری سپرده شد. در مراسم افتتاح لابراتوار مذکور، مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء، داکتر عبدالباری عمر سرپرست ریاست اداره ملی غذا و دارو، مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف، مولوی انعام الله سمنگانی رئیس اطلاعات و کلتور قندهار، محمد یونس مهمند رئیس اتاق تجارت و سرمایه گذاری کشور و برخی مسوولین دیگر اشتراک ورزیده بودند. معاون اداری ریاست الوزراء حین افتتاح لابراتوار تعیین کیفیت مواد غذایی گفت: مواد غذایی که وارد کشور می گردد باید در لابراتوارهای کنترول کیفیت این اداره' تثبیت کیفیت شده و بعد به دسترسی هموطنان ما قرار گیرند. ۷مخ



# د عالیقدر امیرالمؤمنین په فرمان نوې ټاکنې



د افغانستان داسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد ويأي، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین د حکم پر اساس د چارو د لا ښه سمون او پرمختګ په موخه د کونړ مخکینی والي مولوي احمد طه د سرحدونو او قبائلو چارو وزارت د مسلکي معين په توګه، د پنجشير مخکینی والي مولوي محمد محسن هاشمي د تفتيش عالي اداري د سرپرست په توګه، د ۲۰۳ منصوري قول اردو مخکینی قوماندان ملا رحمت الله، د ۲۰۹ الفتح قول اردو د قوماندان په توګه، د ۲۰۹ الفتح قول اردو مخکینی قوماندان مولوي نصر الله مطيع د ۲۰۷ الفاروق قول اردو د قوماندان په توګه، د جوزجان مخکینی والي قاري محمد اسماعيل راسخ د ۲۰۳ منصوري قول اردو د قوماندان... ۷مخ

# له کندهاره د ۳۳۱ میلیونه ډالرو په ارزښت توکي بهر ته صادر شوي



د کندهار د سوداګرۍ خونه وايي، تېر کال له دغه ولايت څخه د ۳۳۱ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت بېلابېل توکي بهر ته صادرات شوي.
د سوداګرۍ خونې د مسوولينو په وينا په صادراتو کې تر ټولو زياته تازه او وچه مېوه، معدنيات، ... ۷مخ

# هلمند کې سلګونه میوه لرونکي بڼونه جوړ شوي

د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست لخوا، د سولې بنسټ (ROP) مؤسسې په مرسته د تېرو ۲ کلونو په لړ کې سلګونه بزګرو ته نږدې ۲ زره جريبه د شفتالو، ګرينګچ، انارو، انګورو، انځرو او نور مېوه لرونکي بڼونه جوړ شوي، چې اوسمهال يې د شفتالو حاصلاتو د راټولو چارې پيل شوې دي.



د دغه ولايت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست مرستيال مولوي زين الله زاهد... ۷مخ

# مجازات تیزرانی موترسایکل رانان در بادغیس




پولیس بادغیس هشدار داده است، از این پس، موترسایکل رانانی که در آن ولایت تیز رانی کنند را مورد پیگرد قرار می‌دهد.
این در حالی است که... ص۷

# کندز کې څه باندې ۱۲ زره متریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه تولیدېږي



د کندز د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د کرنيزو تخمونو د تصديق آمريت چارواکي وايي، سږ کال څلور څېړنيز فارمونه د کرنيزو تخمونو د توليد او تکثير دولتي شرکت او د کرنيزو تخمونو د توليد خصوصي شرکتونو لخوا ۴۳۲.۵۱۲ متريک ټنه هستوي، مورني او بنيادي تخمونه په... ۷مخ

# ریاست احصائیه خوست نزدیک به ۳۱ میلیون افغانی عاید نموده است



شریعت: ریاست احصائیه و معلومات خوست، در سال گذشته نزدیک به ۳۱ میلیون افغانی را از درک توزیع بیش از ۱۲۵ هزار تذکره الکترونیکی و کاغذی عواید بدست آورده است.
ریاست عمومی احصائیه و معلومات کشور روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت که، ریاست احصائیه و معلومات خوست در سال ۱۴۰۱، بیش از ۶۸ هزار تذکره الکترونیک و نزدیک به ۵۷ هزار تذکره کاغذی به باشندگان... ص۷

# محو صدها کیلوگرام یامه در غور

نه صد کیلوگرام یامه، که از آن در تولید مواد مخدر کار گرفته می‌شود، در غور احتراق شد.
مسوولان در ولایت غور می‌گویند: که این مقدار مواد در عملیات نیروهای امنیتی ازروستای کاریزک ولسوالی الفاروق کشف شده بود.
همچنان مسوولان محلی ولایت غور می‌گویند که در تلاش تطبیق فرمان عالیقدر امیرالمومنین ‹حفظه الله› در زمینه‌ی منع کشت، تولید، قاچاق وفروش مواد مخدر اند.

# ننګرهار کې تښتول شوی ماشوم وژغورل شو


شریعت: د ننګرهار د امنيې قوماندانۍ مسوولين وايي، چې د دغه ولايت په بټي کوټ ولسوالۍ کې يې يو ماشوم د انسان تښتوونکو له منګولو ژغورلی دی.
د مسوولينو په وينا، دغه ماشوم څه موده وړاندې د دوو ورونو له لوري تښتول شوی و، چې د امنيتي ځواکونو د پرله پسې هڅو وروسته خپلې کورنۍ ته وسپارل شو.
د مسوولينو په وينا، په دې تړاو يو کس نيول شوی او د يو بل کس د نيولو هڅې روانې دي.

# تخار کې ۱۵۵ تنه د جنايي جرمونو په تور نيول شوي

د تخار د امنيې قوماندانۍ مسوولينو د يوې خبرې غونډې په ترڅ کې تېره مياشت د دغه ولايت په مرکز سربېره بېلابېلو ولسواليو کې د جنايي جرمونو په تورد ۱۵۵ کسانو له نيولو خبر ورکړی دی.
په دې غونډه کې د دغه ولايت د امنيې قوماندانۍ مطبوعاتي مسوول عبدالمبين صافي وويل، چې تېره مياشت د دغه ولايت په مرکز او ولسواليو کې ۱۵۵ تنه د غلا، قتل، اخلاقي فساد، نشه يي توکو د پلور او عامه نظم د ګډوډولو په تور نيول شوي دي.
په همدې حال کې د دغه ولايت يو شمېر اوسېدونکي په دغه ولايت کې د امنيت په ټينګښت کې د امنيتي ځواکونو کړنې ستايي او د لا زيات دقت غوښتنه کوي.

# ترمیم ۱۱ وسایط نظامی غیر فعال

شریعت: یازده واسطه نظامی غیر فعال در قول اردوی ۳۱۳ مرکز ترمیم شد.
وزارت دفاع ملی روز گذشته با نشر تویتی گفت: وسایط ترمیم شده شامل ۲ تانگ هاموی، یک آمبولانس و ۸ موتر انترنیشنل می باشد که غیر فعال بود و از سوی تخنیکران آن قول اردو ۳۱۳ ترمیم شد.



# سمنګانو کې ۳۲۰۰ د اوبو فلټرونه ووېشل شول

سمنګانو کې د افغان ايډ موسسې له لوري ۳۲۰۰ د څښاک اوبو فلټرونه ووېشل شو.
د سمنګانو د کليو، بيا رغونې او پراختيا رياست مسوولين وايي، چې د دغه ولايت د مرکز (ايبکو) په ګډون حضرت سلطان او فيروزنخچير ولسواليو کې د اوچا ادارې په مالي ملاتړ او د افغان ايډ موسسې له لوري پر ۳۲۰۰ کورنيو د څښاک پاکو اوبو فلټرونه وېشل شوي دي. د مسوولينو په وينا، د دغو فلټرونو ټول لګښت څه باندې ۲۵۶ زره امريکايي ډالر دي چې د هر فلټر بيه شاوخوا ۸۰ ډالرو ته رسېږي او کولای شي په ۲۴ ساعتو کې ۲۰ ليتره اوبه تصفيه کړي.



# بغلان کې د شاتو مچيو صنعت ډېر شوی



بغلان کې هغه کسان چې د شاتو د مچيو په روزنه او د شاتو په توليد بوخت دي وايي، چې په دې ولايت کې تر پخوا د شاتو د مچيو صنعت ډېر شوی خو د وروستيو بې وخته اورښتونو او ناسمو موسمونو ۷مخ

توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!